www.eilia.org

محب الله زغم

# اوسپنیز مارغه

د ... فلسفه

۱

لنډې کیسې

www.eilia.org

د کلا مخې ته د توت تر زړې ونې لاندې يوه برگه ثربه غوا تړلې وه. د دوو مياشتو گلالی سپين سخی يې څنگ ته ويده و. اخور يې له شنو وښو ډک و او هغه د وښو په ژولو لگيا وه. هر ځل چې يې خوله له وښو ډکوله يو وار يې خپل بچي ته کتل او خپلې لکۍ باندې يې د هغه له شاوخوا غوماشې او مچان شړل. څو گامه ها خوا يوه ډنگره سپۍ د سپېدار د ونې سيوري ته اوږده غځېدلې وه او د غوا او خسکي ننداره يې کوله. سپېدار په منځ کې داسې نيم و چې ته وا تندر به پرې غورځېدلی وي ؛ خو لا وچ شوی نه و، د سوځېدلو څانگو په ډډو کې يې نوي تېغونه راټوکېدلي وو. د وبالې په پورې غاړه کې د کلا د دېوال په هغه ځای کې چې ونې ته مخامخ و د دوو گزو په ساره کې اومې خښتې لگېدلې وې خو پاتې نوره ټوله کلا له پڅخو جوړه وه.

له کلا څخه يوه ښځه د اوبو سطل په لاس راووته او سطل يې د غوا مخې ته کېښود. د هغې په راتگ خسکی راويښ شو او په نري غږ يې په رمباړو پيل وکړ په ترهېدلو سترگو يې چارچاپېره وکتل. غوا د خسکي مخ وڅاټه ، هغه کرار شو. ښځې د غوا له ډکو غولانځو څخه غولانځ بند خلاص کړ. خسکي د مور تی ونيو او په چړپهار يې په رودلوپيل وکړ. غوا هوسا ولاړه وه. داسې ښکاريدل چې به د سخي ځيرې ژبې چې د هغې غولانځې يې څټلې خوند ورکړی وي. خسکی د ناز او نعمت په دنيا کې مست و او غوا چې هسکه غاړه ولاړه وه ، يو يو وار به يې د خسکي څټ په ژبه وڅټل او بيا به يې شا و خوا ته وکتل. دغې ننداري سړي ته د يوه ښېراز ملک پاچا ورياداوه چې ټول رعيت يې ماړه او هوسا

www.eilia.org

وي  او هغه له ځانه راضي ، هسکه غاړه له فخره په ډکو سترګو دنیاوالو ته وګوري.

سپی د هغوی ننداره کوله. چارچاپېرې ته یې نظر واچاوه هېڅ څوک نه وو نه کوم پاپی نه یې کوتری و، دا یوازې یکړه پرته وه. د هغې تیونه د غوا د غولانځو په څېر ډک نه وو، د افرېقا د خوارو ماشومانو د پوستکي په شان ګونځې ګونځې او د وچکالي ځپلې بانډې د ویالو په څېر تش وو. هغه د خسکي خوا ته روانه شوه لکی یې لکه نېولې اوپه مدار مدار یې ښي او چپ طرف ته ښوروله ، ژبه یې راایستلې وه ښایي غوښتل به یې چې خسکی وربانډې وڅټي خو د غوا چې ورته پام شو قهرېدلې رمباړه یې وکړه او دا یې په خپلو ښکرو ووېروله. د هغې کوړی پورته شو. بېرته خپل ځای ته ستنه شوه. اوږده وغځېده. سر یې پر لاسو کېښود او له سره د غوا او خسکي په تماشه لګیا شوه.

د سپی بچي هم تېر کال له خپلې مور سره همداسې مینه کوله، هغوی به د دې په تیونو پورې ونښتل. دا به د هغوی سر او مخ په ژبه وڅټل او له نازه به یې غوړونه په داړو ټینګ کړل، بیا به یې بچي هم د دې په دود په خپلو کوچنیو غاښونو باندې د دې غوږونه وچیچل. یوه ورځ چې دا له خپلو بچیو یو څه لرې د خوړو په لټه کې وه له اسمانه یوه ټکه راپرېوته ، ګرز شو، سرې لمبې او دوړې پورته شوې. سپی پورته وکتل. یو تور اوسپنیز مارغه په چټکی سره بره د اسمان په لور روان و. سپی په منډه خپل کورته ورغله. هرڅه په دوړو کې پټ وو. هغې خپلو بچیو ته نارې وکړې. اواز یې غریو نیولی و. انګولا یې کوله، خو چا ځواب ورنکړ. دوړې چې کېناستې د نړیدلي دېوال د پڅخو په منځ کې وګرځېده. هرې خوا ته یې پوزه وسونګله؛ خو بچي یې ټول تري تم وو ، یوازې د یوه لکی او د بل د غوږ یوه په وینو لړلې ټوټه څو ګامه ها خوا ته پرته وه.

د ... فلسفه

لنډې کیسې

www.eilia.org

دا د تېر کال خبره وه؛ خو اوس به د غوا او خوسکي د مینې ننداري سپی ته خپل اولادونه وریاد کړي وو چې خپلې جونګړې خوا ته روانه شوه. د هغې ځوړنده لکۍ سړي ته د غمجن بنې ادم سر وریادوه. څو شېبې وروسته د ټټۍ له سوري څخه راووته د کوچني کوتري د غوړ ټوټه یې په خوله کې وه. د دېواله سیوري ته پرېوته غوا چې به پر خسکي ژبه تېروله؛ نو دا به هم د خپل بچي د غوړ ټوټه وڅټله.

www.eilia.org

محب الله زغم

# بې برغولي دېګ

۲

د ... فلسفه

لنډې کيسې

زرغونې د سپوږمۍ په رڼا کې هغه عکس ته
کتل چې په يوه وړوکي قاب کې د سينګار مېز د
پاسه ايښی و . ځان سره يې ويل چې هغه خو پخوا

www.eilia.org

هم ډېر سفرونه کړي وو؛ خو دا تېره جمعه يې لکه چې سفر ته زړه نه کېده. څو وارې تر دروازې لاړ او بېرته راغی. پخوا به يې يو ځل ويل (( د خدای پامان )) او بيا به لاړ خو دا ځل يې راسره څو ځله خدای پاماني وکړه. مازديګر يې له کندهاره راته څو وارې سر په سر ټېلفونونه وکړل. څومره خوږې خبرې يې کولې. لکه چې ډېر خپه شوی دی. خير سبا به له خيره راشي. زه څومره نيکمرغه يم چې هم مې خاوند ښه سړی دی او هم مې خواښې د خپلې مور په شان مهربانه ده.

خواښې وربانديې غږ وکړ: زرغونې لورې ! لکه چې خوب نه درځي چې داسې لټ په لټ اوړې. رسول جان دې يادېږي؟

زرغونې ته حيا ورغله خو له ابۍ نه يې خبره هم نشوه پټولی. له شرمه ډکې موسکا سره يې وويل: ابۍ ! ته پخپله پوهېږې نو.

ـ هو لورې څنګه نه پوهېږم. په موږ باندې داسې شپې ډېرې راغلې دي. هر کال منی به چې د ځمکې کار خلاص شو، خسر به دې هندوستان ته لاړ. د ژمي تر پايه به يې هلته مزدوري کوله.

ـ ته به هغه وخت څومره خپه وې کنه؟

ـ خود به خپه وم خو چا ته مې غږ نه کاوه. که نه نو خواښې به مې پيغور راکاوه چې دې ته وګوره په مېړه پسې خپه ده مېړه وربانديې ګران دی!؟

ـ ولې نو پر تاسو باندې مېړونه نه وو ګران؟

ـ های لورې! داسې ښځه به چېرته وي چې خاوند ورته نه وي ګران. خو هغه بل وخت و.

څو شېبې دواړه غلې وې وروسته بيا ابۍ خبره وغځوله : ستاسو بخت ښه دی. اوس خو موبايلونه لرئ. ان د دنيا له بل سره هم خبرې پکې کېږي. خدای دې هغه بسلمان ته خير ورکي چې دا د ټيلپون بلا يې جوړه کړې.

د ... فلسفه

لنډې کيسې

www.eilia.org

زرغونې ته خندا ورغله، شونډه يې په غاښ وچيچله؛ خو ابۍ وربانديې پوهه شوه.

ابۍ وويل : څنگه خاندې، لکه چې بيا مې خبره غلطه شوه؟

ـ نه ببو. ته وايې چې ټيلفون به کوم مسلمان جوړ کړی وي؛ دا خو کافرانو جوړ کړی.

ـ که هر چا جوړ کړی وي خدای دې ورسره ښه وکړي. څه نور نو ثملة چې زياتې ناوخته شو.

تر هغې چې زرغونه ويښه وه رسول جان يې سترگو ته لر بر کېده. بيا چې ويده شوه په خوب کې يې وليدل چې په يوه خونه کې يوازې پرته ده. د خونې نور هرڅه سم دي ور، کړکۍ، هينداري ، ديوالونه ، فرش ، نيالۍ او بالښتونه دا ټول شيان په کې شته، خو يو شی په کې کم دی کوټه چت نه لري. د نا خونديتوب احساس ورته پيدا کيږي.گومان کوي چې له اسمانه به کوم شی وربانديې وغورځيږي. ناڅاپه د خرهارې غږ اوري. پورته گوري يوه توره بلا ويني چې غټې غټې سرې سترگې، اوږده جاخه ويښتان، کږې اوږدې داړې او لويه خوله لري. بلا خپل لاسونه ورغځوي او په خپلو اوږدو نوکانو باندې د دې پر مرۍ زور کوي. دا چې هر څه زورونه وهي ځان نشي خوځولی چيغې وهي رسول جانه، وه رسول جانه! گومان کوي چې غږ يې له ستونې نه راوځي.

همدې وخت کې يو غږ اوري: زرغونې وه زرغونې لورې!

هغې سترگې وغړولې ابۍ يې خوا ته ناسته وه. ابۍ پوښتنه وکړه: کوم بد خوب دې ليده که څنگه؟

زرغونې ورته د خوب کيسه تېره کړه. ابۍ ورته ډاډ ورکړ چې دا شيطاني خوبونه دي کليمه دې ووايه بېرته ويده شه.

هغې ايت الکرسي او څو نورې سورې وويلې.

له ډېر څنډ وروسته يې بېرته سترگې پټې شوې.

www.eilia.org

سبا ته هم ډېره نارامه وه. ځمکې ځای نه ورکاوه،هېڅ شي خوند نه ورکاوه. کالي يې راټول کړل چې پرې يې مينځي. ابۍ پوهېدله چې کالي دومره نه دي خيرن او زرغونه مازې خپله ورځ پرې تېروي خو غږ يې ونه کړ.

غرمې مهال يې راډيو چالانه کړه. په خبرونو کې يو خبر دا و چې د سهار پر اوو بجو په کندهار کې چاودنه شوې او درنه مرگ ژوبله يې اړولې ده. زرغونه هسې هم پرېشانه وه خو دغه خبر ورته ټکان ورکړ. موبايل يې راواخيست، د رسول جان نمبر ته يې زنگ وواهه. وروسته له څو زنگه کمپيوټر ځواب ورکړ. بيا يې نمبر ډايل کړ خو خبره بيا هماغه وه. ابۍ له پيتاوي جگه شوه او کوټې ته ننوته. زرغونې ورته وويل: ټيلفون نه اخلي.

ابۍ ته هم انديښنه ورلوېدلې وه خو زرغونه يې دلاسا کړه: لورې! مه ورته خپه کېږه هغه به اوس په مين پيلډ( ماين فيلډ ) کې وي هلته خو ټيلپون کار نه کوي. رسول جان خو ويلي و چې هره ورځ تر مازديگره مين پاکوي.ـ ريښتيا په راډيو کې يې څه ويل؟

ـ ويل يې چې سهار په کندهار کې چاودنه شوې. وايي ډېر کسان يې وژلي دي.

ابۍ ډېره خپه شوه. په زړه کې يې هر ډول خبرې گرځېدې خو د دې لپاره چې د زرغونې پام بلې خوا ته واړوي ويې ويل: خدای دې دا ظالمان تباه برباد کي. څومره ښځې به کونډې شوې وي. خدای مو دې تري وساتي د کونډې ژوند خو بې برغولي ديگ غوندې وي.

د زرغونې په ذهن کې ناگومانه دغه عبارتونه سره واوبدل شول ((بې برغولي دېگ ـ بې چته خونه)) پر شيطان يې لعنت ووايه. اودس او لمونځ يې وکړ. څو رکعته د حاجت  نفلونه يې  هم وکړل او د خپل مېړه د سر خيرات يې وغوښت. قران شريف يې له تاخچې راکښته کړ. يو ساعت به يې تلاوت کړی و چې د دروازې زنگ وکړنگېده. خسر يې ور پرانيست. زرغونې د پردې څنډه لرې کړه دروازې ته يې وکتل

www.eilia.org

کوم چا يې خسر ته يو بيک ورکړ ـ بيک د رسول جان و. ټول په وينو سور و. د هغې په ذهن کې هماغه عبارتونه وګرځېدل ـ بې برغولي دېګ، بې چته خونه ـ له خولې يې کړيکه پورته شوه او پر قران شريف باندې بېسده ولوېده.

په ځان نه وه خبره چې څومره وخت بېسده وه خو يو وخت يې د خسر غږ له دهلېزه تر غوږو شو چې ويل يې: زويه څنګه شو ټپيان مو ورسول؟

رسول ځواب ورکړ: هو وموروسول. زرغونه څنګه ده په سد شوې ده که نه؟

www.eilia.org

# پس له مرګه

## ۳

۲۰۵۰ کال دی د مارچ ۲۱ مه. زما د کار لومړۍ ورځ ده. post mortem thought investigation یا پس له مرګه د فکرونو پلټنه، دا د جنايي څېړنو نوې طریقه ده. ۲۰۴۸ کال کې جرمنانو اختراع کړې ده. د تازه مړه شویو کسانو د ژوند د اخرو درېو میاشتو فکرونه ، حافظه اوله نورو سره د هغوی خبرې اترې، معلوموي خو دا کار پس له مرګه یوازې تر لسو ورځو پورې شوني دی. د سړي په ماغزوکې د حافظې، فکر، د لیدلو ، اورېدلو او د مخ د پېژندلو مرکزونه دغه معلومات خوندي کوي. موږ دغه مرکزونه له کمپیوټر سره نښلوو. کمپیوټر له دغو

www.eilia.org

مرکزونو معلومات د برقي سيګنالونو په بڼه را اخلي او بيا يې په غږيزو ، انځوريزو او ليکلي پيغامونو بدلوي. د دې کار ګټه دا ده چې د هغومجرمانو ، چې مړه يا وژل شوي وي، د جرم شريکان او دجرم لاملونه پيدا کولی شو.

شپه مې په ګلبهار کې وه. اوس په لاره کې يم د جنايي طبي څېړنو مرکز له دې ځايه ۸۵ کيلو متره لرې په کابل کې دی. پروسږ کال چې زه له جرمني څخه کابل ته راغلی وم، د کابل برید دې خوا ته باريک او سوېل کې دشت توپ و، لمر خاته لوري ته تر لته بند او سروبيو او لوېديځ طرف ته ترارغندې او شمالي کې تر قره باغه پورې د کابل د ښار په حدودو کې راتلل خو اوس که د سړک د غاړې لوحې او يا GPS نه وي نو سړی د کابل، چاريکار، ګلبهار، لوګر، ګردېز، مهترلام او ميدان ښار توپير سره نشي کولی. هماغه درې- څلور پوړيز سړکونه، پلاستيکي ماڼۍ او مارکېټونه، په غرونو باندې شنه ځنګلونه، هر پنځه کيلومتره وروسته لوی پارکونه او د ميوو باغونه چې په کابل کې دي په دې نورو ښارونو کې هم هماغسې دي. لکه د يوه سړي په لاس چې جوړ شوي وي.

زه بايد په لفټ کې دوه زره متره بر د غره څوکې ته وخېژم. هلته په يوه ميدان ګې کې د لمريزو موټرو اډه ده چې کابل ته تګ راتګ کوي. دغه موټرارين ګاډی نوميږي. د لمر انرژۍ په الکترو مقناطيسي ساحې بدلوي. هلته په کابل کې د اسمايي غره د پاسه يې مرکز دی چې د مخالف قطب مقناطيسي ساحه لري. څنګه چې ارين ګاډی له دې ځايه خوشې شي په يوه دقيقه کې مرکز ته رسېږي. ګاډی يوازې د دې لپاره ورته وايي چې حرکت کوي که نه خو نه انجن لري او نه ټيرونه، بس د هګۍ په بڼه جوړ شوی، په منځ کې يې دوې مخامخ څوکۍ دي، چې څنګه يې تنۍ کېکاږې دواړه څوکۍ د باندې راوځي، پر څوکۍ باندې کښېنه پخپله خپل ځای ته ورځي، د ګاډي دروازه بندېږي، په مخامخ

د ... فلسفه

لنډۍ کیسي

www.eilia.org

ټلویزیون کې کمال هڅاند درته هرکلی وایي: ((ارین ګاډي ته ښه راغلاست))او لا دې د هغه په هکله فکر نه وي بشپړ شوی چې مرکز ته رسېدلی یې. پوره ګرمتیکه یا بنده فضا لري، له بهر سره د هوا، تودوخې او نورو راکړه ورکړه نه لري. د دې ګاډي افغان مخترع کمال (هڅاند) تېر کال د نوبل دوې جایزې وګټلې. یوه د چاپېریال ساتنې او بله د فیزیک. په فیزیک کې د ده کمال دا و چې د عطالت قوه یې دفع کړې ده. دغه قوه د شیانو د سکون او یا خوځښت د حالت په ګټه کار کوي. په موټر کې ناست یې، په چټکۍ سره روان یې، ناڅاپه برېک نیسې، دې وخت کې ته مخ ته ټکان خورې. همدا د عطالت قوه ده. تر دې دمه نورو پوهانو ایله دومره کړې وو چې د انسان د خوندیتوب لپاره یې په نقیله وسیلو کې ملاوستنې لګولې وې خو هڅاند یې داسې چاره کړې ده چې ارین ګاډی له ولاړ حالت  یو دم په دقیقه کې ۹۰ کیلومتره سرعت اخلي او همدې سرعت سره ناڅاپه درېږي خو سړی داسې ګڼي چې په ساکنه کوټه کې ناست دی.

تېر کال افغانانو ته د نوبل څلور جایزې ورپه برخه شوې. دوې جایزې خو هڅاندخپلې کړې، دریمه د سولې جایزه وه چې زموږ ولسمشرافغان قل  وګټله. دی اوزبک خو داسې پښتو او دري وایي چې ته وا دواړه یې مورنۍ ژبې دي. بلا سړی دی، پخوا د شیر وشکر په نوم د پښتو او دري ګډ شعرونه وو خو افغان قل اوزبکي هم ورسره ګډه کړې او ورته شیر و شهد و شکر وایي. ادبپوهان وایي چې هغه دا کار په ډېر مهارت سره کوي. د اوزبکي کلمې د پښتو او دري تر منځ داسې کاروي چې لومړۍ څپه یې د پښتو او اخره څپه یې د دري له کلمو سره غښتلې موسیقي جوړوي.

چې د اتڼ ساز  واوري نو بیا ځان نشي ټینګولی داسې څښې غورځوي چې ته وا چورلکه تاوېږي. دغه کار یې زما د پلار ډېر خوښ دی. هغه وایي چې لوی کسان خپل احساسات نه پټوي.

www.eilia.org

شلورمه جايزه چې بابا مې له خوشالۍ ورته په سپينه ږيره ګډېده د ادبياتو وه چې شپاړس کلنه سوما (پسرلي) ته ورکړل شوه. د نوبل د جايزې تر ټولو ځوانه ګټونکې سوما ده. دا د پلار له خواد استاد محمد صديق پسرلي کړوسۍ او د مور له خوا د کمال هڅاند لمسۍ ده.

دغو جايزو ته مې بابا دومره خوشاله و چې ما وې زما د سرو زرو مډال چې د جرمني د علومو اکاډمۍ راکړی ورنه هېر به وي خو چې څنګه مې مډال واخيست لا له ستېجه نه  وم کوز شوی چې عينکو مې کابل کابل نارې ووهلې، سترګو ته مې کړې چې ګورم بابا او انا مې د کورنۍ د نورو غړو تر څنګ ولاړ دي او راته وايي : (( افرين بچيه ودې ګټلم.))

ما چې د کابل طب خلاص کړ PhD لپاره ،د نړۍ اول نمبر اقتصادي هېواد ، جرمني ته لاړم. طبي ارواپوهنه مې هم د پلار او هم زما مسلک دی. د دکتورا د تېزس موضوع مې د افغانستان د معاصرو ليکوالو په اثارو کې ارواپوهنيزه شننه وه. دې کې مې د بابا په هکله هم په زړه پورې خبرې ومونديې. اول خو يې تخلص له شخصيت سره سر نه خوري. تخلص يې زغم دی خو د کيسو شننه يې څرګندوي چې دی زغم نه لري او په هر څه او هر چا پورې چې د ده ذهن ورسره موافق نه وي لګېږي. بله خبره دا ده چې هغه پخپلو اکثرو کيسو کې د مرګ خبرې کوي خو زما څېړنه ښيي چې هغه له مرګه ډارېږي. پلار مې وايي چې هغه عسکري ډاکتر و خو خپله وظيفه يې ځکه پرېښوده چې ويل يې که زه ووژل شم نو زامن به مې څوک رالوی کړي. خو ما چې يې اروا لوستې ده اوس هم چې ۷۷ کلن دی له مرګه ډارېږي. د خپل تېزس دغه برخه مې له خپل پلار او بابا پټه کړې ده.

★★★



تېره اونۍ د ځانمرګي بريدکوونکي د حافظې په سپړلو او شننې لګيا وم. دا په تېرو درېو کلونو کې لومړی ځانمرګی بريد و چې په کابل کې ترسره

www.eilia.org

شو. دا لومړی ځل دی چې د برید کوونکي سر روغ پاتې دی خو د هغه د ماغزو هغه برخه چې د ده خپلې خبرې یې خوندي کړې وې له منځه تللې ده ځکه خو په خبرو اترو کې د ده وینا نشو موندلی خو د مقابل لوري له خبرو د ده د خبرو اټکل کولی شو. زما کار دا و چې د هغه د دې عمل لاملونه پیدا کړم. د هغه یو پهزړه پورې فکر دا دی: ((دووسانو، ړېرې مو خريیلې دي، ځان نه مو ښځې جوړ کړي. هغه بل یې بیا وګوره شرمیړیم نه د ښځې تر ملا یې لاس تېر کړی، چکر وهي، اې بې غیرته، دووسه.))

داسې برېښي چې هغه په کابل کې چکر واهه او دغه فکر ورته پیدا شوی دی. تر دې فکر وروسته د یوه سړي غبرګون وینو چې ده ته وایي:

((خیریت خو به وي وه وروره ، څنګه راته بد بد ګورې؟ پولیس راوبولم؟))

بیا د ده په ذهن کې دغه خبره ګرځېدلې ده:

((ورک کوه یې تېرېږه ورنه حکومت هم د دووسانو په لاس کې دی، وبه دې نیسي.))

بل ځای دی په کلي کې دی. خپله پنځه کلنه خور په کوڅه کې ویني. د ګلالي د خور او مور له خبرو پوهېدای شو چې ده څه کړي او څه یې ویلي دي:

((دا بې شرمه نجلۍ بیا کوڅې ته راوتلې ده. ته ودرېږه زه به دې خوبش شم.

_ اخ، اخ، وی وی وی، ببو ببو! بیا مې لالا ووهلم.

_ ځوانیمرګ شې وه زویه ولې یې وهې؟

اوف چې دا مې هم څو لغته کش کړي وای. خو څه وکم مور ده. که نه اغا صایب خو ویل چې داسې میندې له شیطانه بترې دي.

_ تا ته وایم وه ګلالیه غږ ولې نه کوې؟

...............

د ... فلسفه

لِندۍ کیسې

www.eilia.org

_ څه شی؟ وه ليونيه د څه شي پرده؟ دا خو لا ماشومه ده.

..............

_ دا کوم خطا درته ويلي چې په پنځه کلنې نجلۍ باندې حجاب وکه؟

..............

_ خدای دې تا له پير سره واخلي چې بې غمه شم.))

ګلالی په يوه روحي ناروغۍ اخته شوی و. ناروغي داسې ده چې ځينو خلکو ته پر خپل شخصيت د نه باور په وجه د حقارت احساس پيدا کېږي. دغه کسان د کامل انسان په لټه کې وي او کله چې دخپل فکر او سليقې سره سم داسې څوک مومي نو يوازې د هغه خبره ورته حقيقت ښکاري او نور هر څه درواغ . ګلالی د اغا صايب په وجود کې کامل انسان ويني او د هغه هر امر په پټو سترګو مني. معلومه نه ده چې د اغاصايب اصلي نوم څه دی خو هغه پرګلالي باندې جهاد الله نوم ايښی و. د ګلالي په ماغزو کې د هغه عکس يو توربخونی، دنګ، نری سړی له اوږدې تورې ږيرې او غټو تورو کړيو سترګو سره ښيي. سپوږمکۍ هغه ځايونه چې ګلالي له هغه سره ليدلي و په نښه کړي دي. زما څېړنه ښيي چې اغا صايب دروغجن دی او ګلالی غولوي. داسې ښکاري چې دی به د کوم بل هيواد جاسوس وي. د استخباراتو کارپوه د هغه په خبرو کې چې ګلالي ته يې کړي دي د PID د جاسوسانو د خبرو ځينې څرکونه موندلي دي.

د ګلالي په ماغزو کې اخري تصوير چې رامنځ ته شوی د شنو باغونو په منځ کې په يوه مرمرينه ماڼۍ کې سپينو جامو کې يوه ښکلې سينګار شوې ښاپېرۍ ده چې د ښيښو په جام کې سور رنګه شربت په لاس موسکا په شونډو د ګلالي هرکلی کوی.

www.eilia.org

www.eilia.org

محب الله زغم

# ترلی

۴

د ... فلسفه

لنډې کیسې

اوس هم وایم کاشکې زه لکه ایمل وای؛ خو هغه وخت مې ځان بد ایسېده. هر وخت به مې ویل

www.eilia.org

کاشکې زه هم د هغه په شان وای. زه ولې داسې یم، ډارن! بس همدا چې د جنګ نوم واورم لاسونه او پښې مې رېږدي، زړه مې درزېږي، خوله مې وچېږي، خبرې نشم کولی؛ خو ایمل وګوره چې جنګ په پیسو اخلي. په زور کې ورنه کم نه وم. څو ځله مې څملولی و، د مټ په زور کې به هم که یو وار هغه برېده دوه وارې به مې بېرته د هغه لاس راڅملاوه. نه، خبره په غیرت کې وه. ما د جنګ غیرت نه درلود.

نوي ښوونځي ته د تګ په لومړۍ ورځ مې سترګې پر هغه ولګېدې. له نورو ټولګیوالو سره د ښوونځي په انګړ کې تر ونې لاندې ولاړ وم. یو دنګ غنم رنګی هلک د ښوونځي په دروازې راننوت. برګ نیم لستوڼی کمیس یې د پتلانه پر سر پروت و. نه دومره ډنګر و نه چاغ. له چابک تګ سره یې تور ویښته پورته پورته غورځېدل. ما ویل بوټونه به یې فنر لري او دی پورته پورته غورځوي. لاسونه یې ډېر خوځول. نرۍ شونډې یې موسکۍ وې. کله یې ښي طرف ته کتل او چا ته یې د سلام لپاره لاس پورته کاوه او کله چپ طرف ته. په شنو سترګو کې یې اتڼاکه ځلاپرته وه.

ما چې هغه ولېد له یوه نوي ټولګیواله مې وپوښتل: دا څوک دی؟ څومره اوقي هلک دی.

هغه وویل: اوقي نه دی،همداسې درته ښکاري. ډېر کاکه هلک دی. بیا به درته معلوم شي، زموږ همصنفی دی.

له نهم صنفه په یوه ټولګي کې وو. کله به زه او کله به هغه اول نمره شو؛ خو د ایرانیانو خبره ، هغه راته مرجع تقلید و.

زه به درس ته ښه ځیر وم ؛ خو هغه به له قلم سره لوبې کولې او یا به یې له کړکۍ د باندې کتل. نابلده استاد به ګومان کاوه چې هغه ټمبل دی ځکه خو درس ته غوږ نه نیسي؛ خو بیا چې پوښتنه به یې ترې وکړه هرڅه به یې زده وو. ما ته داسې ښکارېدل چې ما به درسونه برسېرن زده کول؛ خو ایمل به د هرې موضوع منځ ته ننوته، او هرڅه به

www.eilia.org

يې د منطق په بنا زده کول. يوه ورځ د فضايي هندسې استاد راتـه د يـوې قضيې درس راکړ. قضيه داسې وه چـې پـر هـرو دريـو ټکـو چـې پـر يـوې مستقيمې کرښې نه وي پراته يوازې يوه مستوي تېرېدای شي. هغه وويـل چې همدا وجه ده چې د عکاسۍ او د انجنيرۍ کمرې پر دريـو پښـو درول کيږي چې تر لانـدې يـې يـوازې يـوه سـطحه تېرېـږي او کمره پـرې ټينگـه درېږي.

ايمل وويل: استاده! د الماري پښې څلور دي د دې قضيې په حساب که يوه پښه يې ماته کړو؛ نو بايد لا ټينگه ودرېږي؛ خوپه عمل کې الماري نسکورېږي. دا ولې؟

استاد وويل: په قضيه کې راغلي دي چې دغه درې ټکي بايد پر يوې کرښې نه وي پراته.

ايمل بيا پورته شو: د الماري پښې نو کله پر يوې کرښې پرتې دي.

د ده په خبره د خندا غړ پورته شو.استاد مېز وډباوه. مـوږ غـلي شـو. هغه وويل: دلته د درېو پښو تر منځ زاويه مهه ده.

ايمل وويل: استاده! نو ولې په قضيه کې د زاويې ذکر نه دی شوی؟

د استاد پر تندي گونځې راغلې. رنگ يـې سـور شـو. خـبره يـې سره دې خوا ها خوا کړه؛ خو موږ پوه شو چې د ايمل د پوښتنې ځواب نه لري.

د بي بي مهرو په تجربوي ليسه کې وو. زموږ مکتب په بدماشۍ کـې نـوم وړی و. د ډېـرو هلکـانو پـه بکسـونو کـې بـه بـوکس پنجـې، نانچـک او زنځيرونه پراته وو؛ خو وروسته په ښوونځي کې تلاشي سخته شوه او مـوږ به زنځيرونه تر ملاوستنو لاندې په ملا پورې تـړل. د مـازديگر او ماښـام تـر منځ د دريم ميکرويانو چکر او د نجونو ځورول رانه نه وه قضا. د ميکرويانو هلکان به رانه په ځنگ گرځېدل. کلـه کلـه بـه مـو د نجونو پـر ځـای هغـوی پـه مخـه کـول؛ خـو د بـيمارو هلکانو به راسره ډغرې وهلې. د بدماشانو دوې ډلـې وې يوه د بيمارو والو او بله زموږ د هوډخيلـو. هسـې

د ... فلسفه

لنډۍ کيسې

www.eilia.org

مو جنګ ته بانې غوښتې په پردیو نجونو به مو ننګ کاوه. نجونې به په ځان خبرې هم نه وې؛ خو مور به په خپلو کې سره وېشلې وې. یوه به ویل هغه کاوبای والا یې زما ده، بل به پر خالدارې دعوا کوله، د چا انډیواله مینې ژوپ والا وه او د چا زړه پر شین سترګې تللی و. که کوم بیمارو وال به زمور د ډلې د کوم هلک پر خیالي انډیواله پرزه وویشته او یا به یې ورته وکتل؛ نو سم له واره به اخ و ډب جوړ وو. اکثره وخت به جنګ د ایمل له خوا شروع کېده. د جنګ په پای کې به ما هم د خپل ګرېوان یوه دوه تڼۍ وشکولې او کمیس به مې له پتلانه څخه راوایست چې هلکان ګومان وکړي چې ما هم په اخ و ډب کې برخه اخیستې ده؛ خو له ایمل څخه مې خبره نه وه پټه. ما ورته څو وارې وویل چې زه له دې حاله ځورېږم چې تاسې له نورو سره لاس او ګرېوان یئ او زه لرې درېدلی درته ګورم. خو هغه به ویل چې ته همداسې ښه یې، جنګونه ما ته پرېږده. زه پوهېدم چې پر یو بل یو شان ګران وو. زړه مې غوښت چې لکه هغه واوسم خو رخه مې ورسره نه لرله.

یوه ورځ زمور کسان کم وو. بیمارو والو نو داسې ورځ له خدایه غوښته. یو بل ته مخامخ سره روان وو. د هغوی یو کس نېغ راغی زما او د ایمل تر منځ تېر شو او دواړوسره  یې خپلې اوږې وجنګولې. ما ګومان کاوه چې ایمل به ځان نه پوهوي ځکه چې په دې جنګ کې مو تاوان و؛ خو لا هغه ځوان بل ګام نه و اخیستی چې د ایمل په یوه سوک یې خپلې سترګې ته لاس یووړ. د سترګو په رپ کې یې یوه ګونډه په پوزه او څو نور سوکان په ټېکونو وخوړل او ځای پر ځای کېناست.  ما د هغه له پوزې رابهېدلې وینې ته کتل چې د ایمل لوړه خو بې سېکه ناره مې تر غوږ شوه: ویې نیسئ!

مخ مې وراړاوه. هغه دواړه لاسونه په خپل نس باندې ټینګ نیولي وو. د ګوتو له منځه یې وینې راوتلې وې. یو ګام مخې ته یې په وینو سره

www.eilia.org

چاړه پرته وه. هغه په لاس اشاره وکړه او ويې ويل : مه يې پرېږده. د هغه د غځېدلي لاس په لوري مې وکتل يو څېړور په تېښته کې و. بدن مې تود شو، گومان مې کاوه چې له مخ نه مې تاو پورته کېږي. په ځان کې مې ډېر ځواک احساساوه. منډه مې کړه په څو شېبو کې هغه ته ورسېدم. فقط يو گام مو په منځ کې پاتې و. سوک مې يې ورمېږ ته وربرابر شو، پړ مخې ولوېد. سر ته يې کېناستم تر وېښانو مې يې ونيو مخ مې يې پر ځمکې ځمکې وواهه. ملا او تشو ته مې لغتې ورسيخې کړې. دوه نور انډيوالان مې راورسېدل. د هغه لاسونه يې وروتړل او ما ته يې وويل هله ايمل روغتون ته ورسوه.

د ايمل کولمې درې ځايه سورى شوې وې. هغه يې عمليات کړ. ما وينه ورته ورکړه. پلار او ورونه يې راورسېدل او زه يې رخصت کړم. تېر ماښام کور ته ورسېدم. ډوډۍ مې ونه خوړه. د درس په پلمه بلې کوټې ته لاړم. کتاب مې مخې ته نيولى و او چورت وړى وم. مور مې راته چاى راوړ. پوښتنه يې وکړه چې ولې خپه يې؟

ما وويل : نه يم خپه بس سر مې لږ خوږېږي.

پر تندي يې لاس راکېښود ويې ويل: درس به دې ډېر ويلي وي. کتاب دې پرېږده کرار ويده شه. ښه به شې.

تر ناوخته پورې خوب نه راته. په زړه کې خوشاله وم چې په جنگ کې مې توره کړې ده. هره شېبه به مې د هغه هلک ډېول سترگو ته درېدل. خپلو متو ته به مې کتل. گوتې به مې بې خوده سره راټولې شوې او سوکان به ترې جوړ شول. خو ژر به ايمل راياد شو. خپل وجدان گرمولم چې انډيوال دې د مرگ په حال کې دى او ته خوشالي کوې چې سړى دې وهلى.

ايمل يوه نيمه مياشت بستر و. درې وارې عمليات شو. کله چې له روغتون څخه ووت د کولمې اخر سر يې ورته له نس څخه د باندې

www.eilia.org

رااېستلی و. يوه کڅوړه يې ورپورې تړلې وه. هغه تشناب ته نشو تـلی. هـر څه يې هماغه کڅوړې ته راوتل. لـه دې حالتـه ځورېـده او دا يـې ځـان تـه شرم ګاڼه. هغه څو ورځې ډوډۍ ونه خوړه. غوښـتل يـې چـې کـولمې يـې تشـې وي او کڅـوړې تـه څـه شی رانـه شي. خـو د ډاکترانـو او ملګـرو پـه ټينګار يې په خوراک پيل وکړ. شپږ مياشتې همداسـې و څـو چـې لـه سره عمليات شو او کولمې يې بېرته سره وګنډلې.

په دې موده کې مـا ډېـر جنګونـه وکـړل. زه نـور بيخـي نـه ډارېـدم. د جنګ چل مـې زده کـړی و. دښـمن مـې اول وار تـه نـه پرېښـود. پـر ټېـک باندې يو سوک د حريف پر سترګو توره شپه راوسته.

ايمل نوی له روغتون څخـه وتـلی و. د هغـه تښـتېدلي رنـګ او پـتري نيولو شونډو ته مې خوا بده وه. د ميکروبيانو په چکر مې بـوت چـې لـږ يـې پام غلط شي. يوه دوکان سره ولاړ وو. ايس کريمونه مو پـه لاسـو کـې وو. د بيمارو هلکان مو تر څنګ تېر شول. يوه يـې نـورو تـه وويـل: هلکـانو ايـس کريم نه خورئ؟

بل يې په ملنډو وويل : نه بابا هسې به هم بېرته کڅوړې ته راوځي.

ټولو ايمل خوا ته وکتل او په زوره يې وخندل.

ايمل ته مې مخ واړاوه. د هغه په سترګو کې راته بېوسي ښکاره شـوه. پر تندي يې خوله راغلې وه او رنـګ يـې ژېـړ اوښـتی و. ملګـرو تـه مـې پـه سترګو کې اشاره وکړه. هغوی کـرار کـرار د بـيمارو والـو خواتـه وخوځېـدل. ايمـل زمـا لاس ټينـګ کـړ؛ خـو مـا پـه يـوه ټکـان د هغـه لاس پـه هـوا کـې پرېښود. يو دوه ګامـه چـې مـې واخيسـتل ، ښـۍ پښـه مـې وړانـدې کـړه ، زنګون مې قات کړ.د پتلانه پايڅـه مـې راپورتـه کـړه. لـه جورابـه مـې چـاړه راوايسته. بېمارووالو چې زما په لاس کـې اوږده چـاړه ولېده په تېښته شـول؛ خـو هغـه چـې ايمـل تـه يـې پيغور ورکړی و له درېو خواوو زما د انډيوالانو په منځ کـې راګـير و او مخـامخ زه ور روان وم. د هغـه رنـګ

www.eilia.org

تښتېدلی و. چاړه مې شاته يوړه چې ښه په زوره ورولګېږي. ټـول زور مـې په ښي لاس کې راټول کړی و، چې د ايمل چيغه مـې لاس پـه هـوا کـې وچ کړ: مه!

سر مې شاته وګرځاوه. د هغه خوله وازه وه. لاس يې پورته کړ ورغـوی يې نېغ راته ونيو بيا يې په نرمه ژبه وويل: مه!

ما په غوسه ورته وويل : دوی درباندې ملنډې وهـي تـه وايـې مـه يـې وهه. پرېږده چې کولمې يې را وباسـم. بېرتـه مـې مـخ بـيماروول تـه کـړ او لاس مې شاته يووړ؛ خو دا ځل د ايمل غږ ژړغونی و: مه! د خدای لپاره مه!

چې ور ومې کتل په رډو سترګو يې راکتل . په سترګو کې يې څـه وو؟ زه پوه نشوم چې وېره وه کـه غوسـه، زاری وې کـه امـر؛ خـو همـدومره پـوه شوم چې لاس مې سست شو. هېڅ مې نه شو ويلی. حيرت اخيسـتی وم. هغه په څو ګامونو ځان ما ته راورساوه، چاړه يې رانه واخيسته او ايسته يې وغورځوله. زمالاس يې په خپل لاس کې ونيو او په ځان پسې يې وڅکـولم. نـور ملګـري هــم راپســې روان شــول. د دوکـان لــه ديوالــه سره موخپـل بايسيکلونه واخيستل. ايمل زما د بايسيکل مخې ته کېناسـت. مـا چـې پـر بايسيکل باندې پښه اړوله بيماروول ته مې وکتل هغه هماغسـې پـه خپـل ځای ولاړ و اوايمل ته يې کتل. يو څه لاره مې وهلې وه بيا مې شا ته وکتـل هغه لا هم پخپل ځای ولاړ و، لکه چا چې تړلی وي.

www.eilia.org

محب الله زغم

# د ... فلسفه

٥

د ... فلسفه

لنډې کیسې

www.eilia.org

زه له مرګه ډېر ډارېدم. له ځيرک مې پوښتنه وکړه: ته ولې له مرګه نه وېرېږې؟ ته څه فکر کوې مرګ څه دی؟

هغه په خپلو ببرو جاخه ويښتانو کې ګوتې تېرې کړې، د سر څېړۍ يې وګروله، په زېړو پټري نيولو شونډو يې سګرټ ټينګ کړ، يو لوی کش يې ورنه واخيست او پرته له دې چې لوګی يې بېرته پو کړي په خبرو سر شو: ته يوه جوړه کالي لرې. ستا دغه کالي چې زاړه شي، بيخي زاړه داسې چې نور د اغوستلو نه وي څه پرې کوې؟

ما ته د هغه عادت مالوم و چې د ځواب ويلو پر ځای ډېر سوالونه کوي نو ځواب مې ورکړ: ايسته يې غورځوم.

ــ بيا څه کوې همداسې لغړ ګرځې؟

ــ ولې به لغړ کېنم، ځان ته نورې جامې جوړوم.

ــ آفرين! خو چې دغه کالي دې هم له کاره ووتل نو بيا څه کوې؟

ــ بيا هم نوې جامې کوم.

هغه خپلې زرغونې سترګې چې له تورو نه يې شنې کړې تاوې وې زما په سترګو کې ښخې کړې او بيا يې رانه وپوښتل: ښه نو ته نه غواړې چې داسې کالي ولرې چې تل تر تله نوي وي هېڅ وخت له موډه ونه ولوېږي، رنګ يې هم ستا په لاس کې وي اتومات واوړي، امممم خېرن نه شي په ژمي کې تاوده او په دوبي کې يخ وي. څنګه داسې جامو ته دې زړه نه کېږي؟

دغې پوښتنې حيران کړم، ما وې لکه چې په ما يې بيخي د ماشوم ګومان کړی. خو فکر مې وکړ چې په دې کې به يې خامخا کوم مقصد وي. په ټوکو مې ځواب ورکړ: زړه مې ورته کېږي خو راته جوړوې به يې ته.

www.eilia.org

هغه لکه خپلې موخې ته چې رسېدلی وي، په خوشالی یې وویل: بس همدا د مرگ فلسفه ده. زموږ خاورین تن چې زوړ شي روح ورنه بېلېږي، ایسته یې غورځوي او نوی قالب لټوي. داسې قالب چې زړښت نه لري. څنگه همداسې نه ده؟

ما وویل: هو. بالکل، ستا خبره سمه ده.

هغه څو شېبې له شیطانته په ډکو سترگو راته وکتل او بیا یو دم په خندا شو. زېږ بخوني غاښونه یې چې د سگرټو لوگي یې بېخونه تور کړي وو راښکاره شول. ډېر یې وخندل.اول خو ما هم ورسره وخندل نه پوهېدم چې ولې خاندم هسې ورسره لگیا وم. خو وروسته مې وکتل چې د هغه خندا بندېږي نه او همداسې پسې غځېږي. یو څه وارخطا غوندې شوم. ما وې لکه چې سړی لیونی شوی دی. هغه چې زما حیرانتیا ولېده نو د خندا مخه یې ونیوله. مخکینی سگرټ یې مړ کړ، یو بل یې ولگاوه بیا یې سترگې زما په سترگو کې ښخې کړې او په غوڅه لهجه یې وویل:

(( همدا د انسان لویه کمزوري ده. بنې ادم ډېر ځان غوښتونکی دی. ځانونه راته ډېر لوی ښکاري دومره لوی چې خپله فنا نه شو زغملی. موږ غواړو چې ابدي ژوند ولرو او له منځه تلل راته د خپل وجود سپکاوی ښکاري.گوره یو مثال به درته ووایم: داسې وگڼه چې څوک درته یوه لویه ماڼۍ جوړوي، خورا لویه بې ساري ماڼۍ. د انجنیرۍ ټول کمالونه په کې کاروي.امممم ټول شیان په کې اتومات دي. ټولې چارې یې روباتونه ترسره کوي. امممم داسې کمپیوټري سیستم لري چې هېڅ گډوډي په کې نه راځي.په ښایست او جوړښت کې یې هېڅ عیب نه وي خو یو دم یو باد وچلېږي ماڼۍ ونړېږي او هر څه یې له خاورو سره خاورې شي. ته به څه احساس وکړې؟))

زه چې د هغه خبرو ته په ځیر غوږ وم له لږ فکره وروسته مې ځواب ورکړ:

نهیلی به شم . ټولې هڅې به راته بې ځایه وبرېښي.

_ بالکل همداسې ده زموږ وجود همداسې یوه بې عیبه ماڼۍ ده او موږ نه غواړو چې هر څه مو په مرگ باندې ختم شي.

www.eilia.org

له منصور (ځیرک) سره به مې هر وخت همدغسې بحثونه کول. د هغه په ځینو خبرو مې سر نه خلاصېده خو د هغه هره خبره راته خوندوره او په زړه پورې وه.کله کله به مې د هغه ویناوې په خپله مجله کې خپرولې. د هرې پوښتنې ځواب ورسره و خو سړی یې په لږو خبرو پوهېده. ډېر عجیب سړی و. واده یې نه وکړی، یوازې سر اوسېده. یوه زېږه پیشو یې د کور ملګرې وه. د خپلې پیشو په اړه یې د الماني فیلسوف ((نیچه)) خبره کوله: ((له هغه وخته چې انسان مې پېژندلی له حیوان سره مې مینه پیدا شوې ده))

کله به یې هرڅه سم وو . هره ورځ به یې لامبل اوږدې څنې به یې ږمنځولې، مې وریجې ږیره به یې پاکه او کالي به یې ښه برابر وو. خو کله به یې پوره میاشت کې هم جامې نه بدلولې او ځان به یې نه مینځل. په سلوک کې هم همداسې و. کله به یې هرڅه جدي ګڼل او کله به یې ډېر جدي موضوعات په ټوکو اړول. په خبرو کې خورا بېباکه و د هېڅ چا او دهېڅ شي پروا یې نه کوله. ما به کله کله ورته ویل چې له خولې سره دې پام کوه داسې نه چې کومه ورځ یې رانه وژلی وې. خو هغه به ویل: ((زه ستاسو په شان پر ژوند مین نه یم.))

څه موده مخکې د هغه لېدو ته ورغلم. ورته مې وویل چې دا دومره وخت مو پر فلسفي مسایلو خبرې وکړې له دې څخه کومه عملي ګټه نشو اخیستلی. نن به راته دا ووایې چې ستا په فکر زموږ د ټولنې لوی عیب څه دی؟

هغه لږه شېبه فکر وکړ او بیا یې وویل: سبا ته راشه ځواب به دې سبا ته درکړم.

سبا ته بیا ورغلم. هغه زما په لیدو خوشاله شو غېږ کې یې ونیولم او د کېناستو بلنه یې راکړه. کېناستم او ومې ویل: ملګریه! د مجلې کارونه پاتې دي بس خپلې خبرې وکړه چې بیا درنه ځم.

هغه وویل: د الماری پر سر دا لوښي وینې؟

الماری ته مې وکتل د خولې ډوله ښیښه یې برغولي لاندې د کریستالو په یوه ښکلي لوښي کې زېړ بخوني نسواري رنګه نیم جامد غوندې شی پروت و.

www.eilia.org

(ځیرک) بیا رانه پوښتنه وکړه: ودې لیدل؟ څه فکر کوې څه شی به وي؟
پرته له دې چې زما ځواب ته تم شي ویې ویل : ورشه له نژدې یې وګوره.
زه ورنژدې شوم. په ځیر سره مې ورته وکتل خو پوه نشوم چې څه شی دي.
هغه راباندې غږ وکړ: سرپوښ ترې ایسته کړه وبه یې پېژنې.
څنګه چې سرپوښ مې ترې لرې کړ ډېر چټې بوی مې سپږمو ته راغی، خوا مې وګرځېده. په بېړه یې له کوره ووتم. خدای پاماني مې هم ورسره ونکړه. ځان سره مې وویل چې بیا به په ژوند کې هم ورسره خبرې نه کوم. ځان ته مې زیاړې کولې چې ولې دې له داسې لیوني سره ملګرتیا کوله.
درې ورځې وروسته د مجلې د نوې ګڼې مطالب مې سره برابرول چې پیاده مې دفتر ته را ننوت. یو پاکټ یې راکړ او ویې ویل چې یو ملنګ غوندې سړی راغلی و، دغه پاکټ یې راکړ، ویل یې چې دا به مو خامخا په مجله کې خپروئ. پر پاکټ باندې هېڅ شی نه و لیکل شوی. په منځ کې یې لیک و، لیکلي یې و.
(( پوهېږم له ما ډېر خپه یې.
ما څه کړي وو؟
خپله چټلي مې پاللې وه. اوف دا څومره بد شی دی. بد بوی کوي، د سړي خوا ګرځوي، له میکروبو ډک دی سړی مر یضوي کیدای شي ځینې کسان په همدې ناروغیو مړه هم شي.
نو ما ولې دغه سپک کار وکړ؟
یوازې - فقط د دې لپاره چې دغه مرداري مې خپله وه.
ستا د پوښتنې ځواب همدا دی. زموږ ټولنه همدا کار کوي.))

www.eilia.org

محب الله زغم

# کړنګ

د ... فلسفه

لنډې کیسې

۶

www.eilia.org

ځو تنه سـپيني چپنـې والا کـوټې تـه راننوتـل. يـو يـې وويـل: ډاکـتر صايبانو، ما په لکچر کې د همدغه مريض خبره کوله.

ډاکـتر، لکچـر، مـريض، نـه پوهېـدم چـې دا څـه سره وايـي. ډاکـتر، مريض، په ذهن کې مې د هغه خبرې تکرارېدلې.

بيا يې وويل: پوره دوه هفتې په کوما کې و، پرون په سـد شـو. اوسـه پورې څوک نه پېژني، خبرې هم نه شي کولی، حافظه يې له لاسه ورکړې.

د هغـه خـبرې مـې بيـا پـه ذهـن کـې انگـازې وکـړې: پـرون، حافظـه، کوما....

زړه مې ورته تنگ شو دا څه سره وايي.

يوه بل پوښتنه وکړه: استاده! سړی ولې په داسې حالاتو کې کوما ته ځي؟

اولي ځواب ورکړ: که چېرې سړی په سد وي دومره شديد دردونـه نـه شي زغملی. دا د بدن يو دفاعي ميکانيزم دی.

کوما، درد، ډاکتر، مريض.

درد، دوا، ډاکتر، مريض... کرار کرار دغـو خـبرو راتـه مانـا پيـدا کولـه.

مريض ـ درد، ډاکتر ـ دوا.

يوه بل يې وويـل: اسـتاده! نـو حافظـه ولـې لـه منځه ځي؟

www.eilia.org

اولي بيا ځواب ورکړ: حافظه له منځه نه ځي، بلکې سرې يې ياد ته نشي راوستلی. دا هم د انسان په ګټه ده که مريض ته تېره حادثه وريادہ شي بيا بيا شاک ويني.

بيا مې دغه کلمې لکه چې څوک مې په غوږ کې تکرار کړي په وار وار واورېدلې.

حافظه، حادثه، انسان، مريض.

★★★

ـ ليداجانې! مريض څنګه دی؟

ـ ښه دی. حياتي علايم يې ثابت دي.

ـ خبرې کوي؟

ـ پرون چې تاسې لاړئ لږ لږ يې ستاسو خبرې تکرارولې. نن يې ويل چې ((مخ ليد)) راکه. زه پوه نشومه چې څه شی يادوي.

ـ ډېر ښه. کرار کرار ښه کيږي. تا څه وويل مخ ليد، مخ ـ ليد، امممم هو هېنداره به يې غوښتې وي.

ـ ما ورو ورو سترګې پرانيستلې. اوس پوهېدم چې هغه زما ډاکتر دی. خوله مې په سختۍ سره خلاصه کړه، په ټيټ غږ مې ورته وويل: ډاکتر، درد.

هغه خوشاله شو ويې ويل: کوم ځای؟

ما خپلې ښۍ اوږې ته اشاره وکړه.

هغه وويل: اوږه دې درد کوي؟

ما د هغه خبره تکرار کړه: اوږه دې درد کوي.

ډاکتر ليدا ته وويل: يو ديکلوفينک امپول ورته په مټ کې ولګوه.

هغه لاړ. ليدا هم لاړه څو شېبې وروسته بېرته راغله. يو پټنوس غوندې شی يې په لاس کې و. د هغې له لاسه کوم شی وغورځېد، کړنګ شو.

د ... فلسفه
لنډې کيسې

www.eilia.org

کړنګ، کړنګ، کړنګ... دغه اواز مې په غوږو کې انګازې کولې. یو تت غوندې تصویر مې په ذهن کې جوړ شو لکه د خولو وهلې ښیښې له شا چې چا ته وګورې. درې کسان د یوه مېز شاته پر چوکیو ناست وو. مخونه یې سم نه ښکارېدل ، لکه دوړو کې چې پټ وي. ګیلاسونه یې پورته کړل سره ویې جنګول: کړنګ، کړنګ، کړنګ.

یوه وویل: په سلامتی.

بل یې وویل: د ټولو په سلامتی.

ګیلاسونه یې خولو ته یوړل. په سر یې واړول.

سپړمو ته مې یو تېز بوی راغی. لیدا په پنبې باندې د اوبو غوندې دوا لګوله. دې بوی سره مې سر ټکان وخوړ.

هغو دریو تنو بیا ګیلاسونه نیمایي پورې ډک کړل. کړنګ کړنګ سره ویې جنګول ویې چښل. کرار کرار د هغوی تصویر روڼ شو. یو په کې زه وم ، مخامخ راته ایمل ناست و ، څنګ ته مې داوود و.

ګیلاسونه څو وارې ډک او تش شول. پاڅېدو، په موټر کې کېناستو. داوود پر جلو کېناست، څنګ ته یې ایمل ناست و، ما ځان شاتني سیټ کې اچولی و. موټر روان شو، لکه ټال کې چې ناست اوسو زنګېدلو. څه خوندور حال مو و. په ټېپ کې هندې سندره چالانه وه: ((شراب جس نې بنایي اوسې همارا سلام))

موږ ټولو سندره تکراروله، ورسره مو چکچکې هم کولې. داوود به کله شتړنګ ته لاس یووړ او کله به یې چکچکې کولې. نیمه شپه وه، سړکونه خالي، د پسرلي تازه هوا، ډېر خوند یې راکړی و. له لرې دوه څراغونه په چټکۍ سره رانژدې کېدل. موږ په دنیا نه و خبر. ایمل چیغې کړې: احتیاط!

موټر بریك ونیو: کغغغغغغغغغ ، ګړز.

★★★

ـ لیدا جانې! مریض بیا کله بې سده شو؟

د ... فلسفه

لنډې کیسې

www.eilia.org

ـ یو ساعت به کیږي. هماغه وخت چې تاسو ته مې زنګ وواهه.

ډاکتر راباندې غږ وکړ: اجمله! اجمله!

کرار کرار مې سترګې وغړولې. هغه په موسکا سره لیدا ته وویل: ډېر ښه. دې ته وايي بست وربل رسپانس (best verbal response ).

یوه اشنا غږ وویل: یاره ترور زیه! زما ورور خو بختور و، انډیوالان یې همله ځای په ځای ختم شوي وو.

www.eilia.org

محب الله زغم

# نوم او مينه

۷

سـپوږمۍ د کابـل پوهنتــون لـه دروازې تېـره شـوې او د ادبيـاتو پـوهنځي خـوا تـه روانـه وه. پـوره درې کالـه کېـده چـې پوهنتــون تـه نـه وه تللـې. د ۱۳۷۱ کال د ورې د مياشتې ۲۵ مه پوهنتون تـه د

www.eilia.org

هغې د ورتګ وروستۍ ورځ وه. په دې دريو کلونو کې پوهنتون ډېر بدل شوی و. د ونو څانګې غوځې شوې وې. هرې خوا ته د هيندارو ټوټې پرتې وې دېوالونه سوري سوري وو. پر سړکونو باندې د رژېدليو پاڼو دوړو او ګرځونو برېستن خوره وه. اکثره ودانۍ په کنډوالو بدلې شوې وې خو د سړک دواړو خواوو ته د روسي بېد بوټي لا هماغسې ولاړ وو. يوازې پوهنتون نه و بدل بلکې د ټول کابل او کابليانوهمدا حال و. د سپوږمۍ پر هغه صفا مخ چې پخوا به لکه هيندارې ځلېده اوس يو څه ګونځې پيدا شوې وې. غټې تورې سترګې يې په خپلو کاسو کې ژورې ننوتلې او چارچاپيره يې تورې کړۍ تاوې شوې وې. د اننګو او د شونډو پخواني سره يې نه وو پاتې. هغه غوښنې اوږې او د زړکې په شان په هسکه غاړه تګ هم ورپاتې نه وو. خو اوږده باڼه او تونډې وروځې يې لا هماغسې ښکلې وې. هغه چې کتابتون خوا ته ورسېده ځای په ځای ودرېده او د تېرو وختونو په ياد ډوبه شوه. دا هغه ځای و چې له کنشکا سره يې په وروستي ځل ليدلي و؛ خو د زړه خبره يې ورته نه وه کړې. څلور کاله مخکې منی چې د دويم سمستر ازمويني نږدې وې دا له ورېمې سره په کتابتون کې مطالعه کوله. يو کوچنی هلک چې په يوه وړوکي ټيمګي کې يې سکاره اچولي وو د دوې مېز ته ورغی بلا ډېر سپېلني يې په ټيمګي کې واچول او د دې شاوخوا ته يې وڅرخاوه ټول سالون له دوړو ډک شو، هلک له جيبه يو پاکټ راوايست د سپوږمۍ مخې ته يې پر مېز باندې کېښود او په منډه له دروازې ووت. سپوږمۍ په هلک پسې وکتل که ګوري چې د ښيښې له شا يو دنګ ښايستوکی ځوان ورته ګوري همدا چې سره سترګې په سترګو شول هغه هم وتښتېد. کاغذ يې پرانيست په کې ليکل شوي وو:

((ګرانې سپوږمۍ جانې!

اته مياشتې لس ورځې دوه ساعته او شل دقيقې کيږي چې زړه مې غواړي يو څه درته ووايم؛ خو جرات يې نشم کولای. زه دې هره ورځ څارمه خو

www.eilia.org

ته راته هډو ګوري نه. درته ځولۍ غوړوم فقط یو ځل راته موقع راکړه چې د زړه خبره درته وکړم.

په بې سارې مینه

ستا مین ))

ورمې چې شا یې کړکۍ خوا ته وه او هغه ځوان یې نه و لیدلی وپوښتل: دا کاغذ د څه شي دی؟

سپوږمۍ ژر ژر کاغذ قات کړ او ځواب یې ورکړ : هیڅ ... ام .. هغه

ورمې لاس ورواچاوه، د سترګو په رپ کې یې کاغذ ولوټ او په منډه له کتابتونه ووته. خط یې ولوست او په بیړه بېرته راغله. وروځې یې پورته وغورځولې او ویې ویل: ښه نو سترګې مو روښانه اوس نو خطونه هم درته راځي، هه.

سپوږمۍ وویل: توره بلا مې ورپسې، دی ورک شه خط یې ورک شه.

له هغې ورځې وروسته به د ورمې له لاسه ډېره په عذابه وه هغې به هره ورځ ځوروله. سپېلني والا به هره ورځ یو خط او یو سور مرسل ګل ورته راوړه. سپوږمۍ تر څو ورځو پورې ځان بې پروا ښودله کله یې د سپېلني والا له لاسه خط نه اخیست اوکله یې خط څیراوه او ایسته یې غورځاوه؛ خو د خطونو او ګلونو کاروان هماغسې ور روان و. هغه ځوان به هم تل په دوې پسې و.

ورمې ورته ویل چې دومره کبر ښه نه وي. وګوره خوارکی څنګه په سوالګرو سترګو درته ګوري. کاشکې ستا بخت زما وای. وګوره څومره ښکلې قواره لري. شنې سترګې یې لکه شنه اسمان دي. لوړه پزه یې له غټو سترګو سره څومره خوند کوي. پلنې اوږې او غټ غټ مټونه یې بیخې د رامبو په شان دي.

سپوږمۍ به هم یو یو وار چې د ورمې پام به نه و د سترګو لاندې هغه ځوان ته کتل. د شپې به یې د خوب په بستر کې ځان سره ویل چې ورمه

د ... فلسفه

لنډې کیسې

www.eilia.org

ریښتیا وایي هغه څومره ښکلی دی. بیا داسې وخت هم راغی چې هره ورځ به تر هغې ناکراره وه چې یا یې د هغه خط تر لاسه کاوه او یا یې هغه لیده. اخر کې یې دا خبره له ورمې سره شریکه کړه. هغې ورته مشوره ورکړه چې ته هم ورته خط ولیکه.همداسې یې وکړه په خط کې یې همدومره لیکلي وو: ((ستا نوم څه دی؟))

هغه یې ځواب کې لیکلي وو : ما خو ستا نوم پخپله پیدا کړ اوس نو ته هم زما نوم پخپله پیدا کړه.

ورمې بیا مشوره ورکړه چې اول به پسې ورشو او وبه ګورو چې په کوم پوهنځي کې دی. دا ورته معلومه شوه چې هغه د انجنیري د پوهنځي د دویم ټولګي محصل دی. د هغوې د ازموینې د نمرو لیستونه د دهلیز په ښیښو پورې سرېښ وو. دوې یې په لوستلو پیل وکړ په لیست کې د کنشکا نوم د دواړو خوښ شو د هغه نمرې تر ګردو ټولګیوالو لوړې وې. ورمې وویل: ((څومره ښه د اول نمره ګانو جوړه))

دا د ازموینو وروستۍ ورځې وې. ژمنۍ رخصتۍ راغلې.کال ته چې بیا درسونه پیل شول بیا هم د سپوږمۍ او د هغې خیالي کنشکا تر منځ د خطونو راکړه ورکړه شروع شوه. کنشکا هېڅ کله خپل نوم په خط کې نه لیکل او سپوږمۍ هم له قصده د هغه نوم نه اخیسته او یوازې یې لیکل (( بې نومه اشنا!))

د وري په ۲۵ مه هلک په همدغه ځای کې چې اوس سپوږمۍ ولاړه وه له شا ورباندې غږ وکړ: سپوږمۍ جانې! سلام

سپوږمۍ مخ ورواړاوه په رېږدېدلي غږ یې وویل: سلام

ورمې د سپوږمۍ له څنګه همداسې غلې لرې شوه تر څو هغوې په بې غمه زړه خبرې وکړي. خو هغوې د بوټانو په شان ولاړ وو کله یو بل ته او کله یې ځمکې ته کتل. هغوې به په همدې حال یو بل ته ډېر څه ویلي وي

www.eilia.org

خو دغې چوپتیا د ورمې زړه تنگ کړ، سپوږمۍ یې تر لاسه ونیوه او له ځانه سره یې روانه کړه.

سپوږمۍ ته د شپې تر ډېره ناوخته پورې خوب نه ورته. په زړه کې یې ویل چې خدای دې دا شپه ژر تېره کړي او سهار راولي چې بیا د هغه دیدن وکړم. ځان یې گرماوه چې ولې یې داسې ښه موقع له لاسه ورکړې. له ځان سره یې ژمنه کوله چې پروا نه لري سبا چې هر رنگه وي هرو مرو به ورسره خبرې کوم.

سبا هغې تر نورو ورځو وختې ځان چمتو کړی و چې پوهنتون ته لاړه شي؛ خو پلار یې ورته وویل چې حکومت کې د ننه گډوډۍ روانه ده څو چې د حالاتو پته لگېږي دا باید له کوره ونه ووځي. د سپوږمۍ داسې حال و لکه چې پر سرو سکروټو دې یخې اوبه شیندلې وي.

څو ورځې وروسته جهادیان کابل ته ننوتل. دوې په خپلو کې سره ونښتل. پوهنتون هم د جنگ پر ډگر واوښت او بند شو.

سپوږمۍ لا په دې چورتونو کې ډوبه وه چې یوغږ یې تر غوږو شو: سپوږمۍ!

شا ته یې وکتل ورمه ورروانه وه.خوله یې له موسکا ډکه وه، په منډه یې درې څلور گامه واخیستل او سپوږمۍ ته یې ځان ورساوه. هغه یې په غېږ کې ونیوله، څو وارې یې پر مخ ښکل کړه بیا یې هغه تر متو ونیوه په ځیر یې ورته وکتل او بیا یې په غېږ کې ټینگه کړه. دواړه لاسونه یې پخپلو لاسو کې ونیول او پوښتنه یې وکړه: څنگه ډنگره شوې یې دا مخ دې وگوره داگونځې دا پر تا څه شوي دي؟ په کور کې خو به؟

ـ نه گرانې، په کور کې مو خیر خیریت دی. ستاسو څنگه؟ دا جنگونه درباندې په خیر تېر شول؟

ـ څه به درته ووایم زموږ کور یې لوټ کړ خو پخپله شکر جوړ یو، مزار ته تللي وو.

د ... فلسفه

لنډې کیسې

www.eilia.org

ـ ځه پروا نه لري د سر تاوان چې مو نه وي مال به خدای پیدا کړي.

ـ ښه نو ته ولې داسې خرابه شوې یې؟ رښتیا دلته دې څه کول؟

ـ هېڅ همداسې پوهنځي خواته تلمه . هغه اخره ورځ دې په یاد ده همدلته سره ولاړې وو که نه؟

ـ ښه نو داسې! رښتیا هغه ځنګه دی؟ خط مط یې در رسیږي که نه ؟

ـ نه بابا، دا درې کاله د هغه په یاد کړېدلې یمه. له هماغې ورځې مې بیا نه دی لیدلی.

ـ راځه چې پسې ورشو. وګوره د پوهنځي مخې ته یې محصلان ولاړ دي. دی به هم وي.

دواړه ورغلې. څو ځله دې خوا ها خوا وګرځېدې او د سترګو له کونجونه یې ټول هلکان وڅارل خو کنشکا یې ترسترګو نه شو. وړمه پوهه شوه چې سپوږمۍ د هلک لیدو ته ډېره ناکراره ده نو هغه یې د یوې ونې لاندې ودروله او پخپله د انجنیري محصلانو خوا ته رهي شوه. له یوه هلک یې وپوښتل: وبخښئ کنشکا پېژنئ؟

ـ اول نمره کنشکا؟

ـ هو، هماغه دلته د یو چا په کار دی.

ـ زه به یې پیدا کړم دا څو شېبې مخکې همدلته و.

ـ مننه، موږ به د هغه ونې لاندې ودرېږو.

وړمه په خوشالۍ ونې خوا ته لاړه او په سپوږمۍ باندې یې زیری وکړ چې اوس به خپل رامبو ووینې.

هغوې په خپلو کې د تېرو وختونو خوږې کیسې کولې چې یو ډنګر جینګ داړی عینکې والا یې مخې ته ودرېد او ویې ویل : له ما سره مو کار و.

ـ وړمې او سپوږمۍ یو بل ته سره وکتل، دواړو په یوه غږ وویل: نه.

www.eilia.org

ـ هغه زما ټولګیوال راته وویل چې د دوی په کار یې.

ورمې وویل:  نه وروركه زموږ خو له كنشكا سره كار دى.

ـ نوکنشكا خو زه یم كنه.

دواړو له هغه بخښنه وغوښته او رخصت يې كړ. هغـوې پـه نهيلـۍ سره کتابتون خوا ته وخوځېدې. ورمې سپوږمۍ ملامته كړه: پـه هغـه ورځ د مجسمې غوندې ولاړه وې ژبه خو بـه دې ګـونګۍ نـه وه. ولـې دې د نـوم پوښتنه ترې و نه كړه؟

سپوږمۍ چوپه خوله روانه وه هماغه ځای سره چې هلـک د ښیښـې له شا دوې ته په کتابتون کې کتل ودرېده له ماتې کړکۍ یې ورمې ته هغه ځای وروښود چې دوې ناستې وې او سپېلنې والا خط ورکړی و. بیـا يـې د هلک د تېښتې لاره وروښودله چې هغه داسې د ونو مـنځ تـه وتښـتېد. نـا څاپه يې سترګې د يادانښت پـر يـوې كتـابچې ولګېـدې چـې د هينـدارو د ټوټو او د ونو د رژېدليو پاڼو پر سر خلاصه پرته وه.ورنژدې شوه راپورته يې كړه په لوستلو يې پيل وكړ كـه ګـوري چـې هغـه پاڼـه د دې پـه نـوم شروع شوې ده:

((ګرانې سپوږمۍ جانې!

نه پوهېږم چې دا مينه ده كه لېونتوب. لا مې د هغې ورځې وهـل نـه دي هېر خو بیا هم ستا په یاد  پوهنتون ته راغلـم. اوس كتـابتون سره ولاړ يم هماغه ځای چې تا په لومړي ځل راوكتل او ما دې سـترګو تـه تـاب رانـه وړ. خو زه اوس هغه ډارن نه يـم كـه مـې مخـې تـه راشـې ترهغـې بـه درتـه وګورم چې))

دې نه وروسته كتابچه سپينه وه. مخكينـۍ پاڼـه يـې راواړولـه دغـه كيسه په كې وه:

((نن مې ډېر وهل وخوړل. د سـپوږمۍ پـه يـاد پوهنتون تـه تللى وم. وسـله والـو ونېـولم. ویـل يـې چې ته زموږ دښمنانو ته جاسوسي كوې. دومره يـې

www.eilia.org

ووهلم چې په ټول بدن کې مې روغ ځای پاتې نه و خو خدای راباندې رحم وکړ یو ټولګیوال مې راپیدا شو هغه هم وسله وال و. هغه ته مې وویل چې پوهنتون کې تېر یادونو تازه کوم. هغه ډېر راپورې وخندل او ویې ویل چې ته خو ریښتیا چې عجب، عجب سړی یې. اوس چې دغه کرښې لیکم ټول بدن مې خوږیږي خو د سپوږمۍ په خاطر به دا هر څه وزغمم.

۱۸ _ ۹ _ ۱۳۷۳ ))

د کتابچې هره پاڼه د سپوږمۍ په یاد ډکه شوې وه. هغه یې هره ورقه په ډېر شوق ولوستله. په یوه ځای کی داسې لیکل شوي وو: ((نن مې په ژوند کې تر ټولو ښکلې ورځ وه. سپوږمۍ خدای مهربانه کړه یوه پرزه یې راولېږله زما د نوم پوښتنه یې کړې وه. خوما ورته خپل نوم ونه ښود. ځنګه وکړم بابا راباندې داسې نوم ایښی چې سړی ورباندې شرمیږي.))

سپوږمۍ د کتابچې اول مخ راواړاوه هلته په ښکلي مشقي خط لیکل شوي وو:

د عجب ګل حیران

د خاطراتو دفتر

وږمې چې تر دې دمه د سپوږمۍ په څنګ کې غلې ولاړه وه او له هغې سره یې یوځای یادښتونه لوستل له خندا شنه شوه. په ملنډو یې وویل: دا یې بله خوشالي! تا ورباندې د کنشکا ګومان کاوه خو هغه د شاد ګل ورور وخوت.

دواړو وخندل خو اندېښنې د سپوږمۍ خندا ولوټله، ویې ویل: وګوره په اخره پاڼه کې نېټه نشته دا به یې کله لیکلې وي؟

_ پر کتابچې خو یې لا ګرد نه دی لویدلی زه خو وایم همدا اوس به یې لیکلې وي راځه چې وګوره همدلته به چېرې پټ وي.

چارچاپېره یې وکتل څو ګامه هاخوا یو محصل ونې ته ډډه لګولې وه. وږمې ورنه پوښتنه وکړه:

www.eilia.org

وروره دغه کتابچه، د دې کتابچې څښتن خو به دې نه وي ليدلی؟

هغه ځواب ورکړ: نه بي بي جانه نه مې دی ليدلی.

څو شېبې وروسته يې غږ وکړ : هو رښتيا ـ دا به ـ د هغه سړي له جېبه به لويدلې وي ـ هغه چې عسکرو په موټر کې يووړ.

سپوږمۍ پوښتنه وکړه: ولې؟ څه يې کړي وو؟ جنګ خو به يې نه وي کړی؟

ـ نه بابا هغه بېچاره د څه کولو نه و. زړه مې ډېر وربانديې بد شو ظالمانو بد رقم وژلی و ـ د خوارکي پر سر بانديې يې ميخونه ټک وهلي وو. هغه کراچۍ وينې لاندې په صندوق کې يې د هغه مړی پټ کړی و.

د هغه خبره لا نه وه خلاصه شوې چې سپوږمۍ پر ځمکه وغورځېده او بې سده شوه.

www.eilia.org

محب الله زغم

# د کاناډا پر لاره

٨



عمرگل ناکراره و. د ماښام لمونځ یې خلاص کړی و؛ خو نه پوهېده چې سنت یې هم پوره کړی و

www.eilia.org

که د اول رکعت تر سجدې وروسته یې التحیات شروع کړي و. شیطان ته یې لاحول ووایه. له سره یې د سنت نیت وکړ. اول رکعت یې ښه په خیر ادا کړ خو د دویم رکعت تر الحمد وروسته په لمانځه پوه نشو. یو وخت یې پام شو چې ښي لور ته یې سلام کړی دی. مخ یې چپ طرف ته واړاوه او السلام علیکم و رحمت الله یې وویل. د نورو ورځو پر خلاف یې د ګوتو د بندونو په شمېرلو سره د سبحان الله ، الحمدالله او استغفرالله ذکر ونه کړ. دعا یې هم تر نورو ورځولنډه شوه. انګړ ته راووت، شاوخوا یې تر نظر تېر کړل. د اوسپنیز وره د جرمني قلف قید یې بند کړ. کوټې ته لاړ. یو بل غټ قلف یې هم راوړ او د وره په وطني زنځیر پورې یې قلف کړ. قلف ته یې په لاس باندې ټکان ورکړ. ایله چې زړه یې یو څه کرار شو. دکوټې په لور روان شو. موبایل ته یې زنګ راغی. موبایل یې د کورتۍ له جیبه راوایست، یوه شېبه یې ورته وکتل بیا یې تڼۍ کېکښله.

_ سلام علیکم باجه ګله څنګه یې؟

_ زه خو ښه یم. ته ولې رانغلې؟

_ والله وروره زه خو دا کور نشم پرېښودی.

_ بابا کوم د سرو زرو کان لرې چې نه یې شې پرېښودی.

په خندا یې وویل:

_ والله که شی لرم خو بیا هم احتیاط ښه دی.

_ ته راځه چې یو ګړی بنډار سره وکړو.

_ خیر یوسې بیا به کوم بل وخت درشم. هاغه دي کوچنیان خو مې درواستول. پرېږده چې دوی خپل مجلس وکړي. زه او ته خو هروخت سره لیدای شو.

_ ښه نو خوښه دې خپله.

عمر ګل خوشاله شو چې باجه یې خبره ومنله؛ خو ژر یې شونډې سره ورغلې له ځان سره وبونګېده: لکه خبر شوی چې وي. عجیبه خلک

www.eilia.org

دي. په تا يې څه چې زر لرم که نه يې لرم. تر څملاستو پورې يې څو ځله نور هم په انګړ کې ګزمه وکړه. د شپې تر ناوخته خوب نه ورته. څو وارې يې ايت الکرسي ووايه او د کوټې پر څلورو خواوو يې چوف کړ.

نيمه شپه درب شو. عمرګل راويښ شو. دومره چوپتيا وه چې د خپل زړه درزا يې هم اورېدله. کېناست او په ځير يې غوږ ونيو. څه يې وانه ورېدل. د سپوږمۍ تته رڼا د کوټې لږه برخه روښانه کړې وه. يوه شېبه يې خپله ساه بنده کړه او ټول حواس يې په غوږو کې تم کړل. يوازې د ونې د پاڼو نرۍ شرکا يې تر غوږو شوه چې باد ښورولې. ځان سره يې وويل: هسې سودا اخيستی يې کومه پيشو ميشو به پر بام تېره شوې وي. بېرته پرېوت سترګې يې پټې کړې او کلمه يې تېره کړه. د پښو له ښکالو سره يې بل درب واورېد. نېغ کېناست. زړه يې ټکان کاوه. په زوره يې وټوخل. د بالښت له څنګه يې تبرګی راواخيست. ورو روان شو. دهليز يې په لوڅو پښو پې کړ. د دهليز د وره د قلف له سوري څخه يې انګړ ته وکوت. څه يې ونه ليدل. ور يې کرار پرانيست. نارې يې تېرې کړې. انګړ ته يې ګام کېښود. لاس يې پر دېوال تکيه کړ. ښي لاس ته وګرځېد. لا يې بل ګام نه و اخيستی چې په څټ کې يې د اوسپنې تېره څوکه ټينګه کېښوول شوه.

يوه وارخطا غږ ژر ژر وويل: ښورې به نه. ځای پر ځای کېنه. لاسونه دې سر ته ونيسه.

سړی کېناست. تبرګی يې څنګ ته کېښود او لاسونه يې سر ته ونيول.

يوه لاس د هغه ښۍ ګوتې پورته کړې او دواړه ګوتې يې په يوه پلاستيکي مزي باندې سره وتړلې. د عمرګل په ذهن کې د امريکايانو هغه فلم تېر شو چې د تلويزيون په خبرونو کې يې ليدلي و. هغوی چې څوک نيسي د زولنې پر ځای يې ګوتې همداسې

www.eilia.org

سره تړي. په زړه کې يې وګرځېد: خدای دې وکړي چې دا امريکايان وي، خپله تلاشي به وکړي او لاړ به شي.

يوه کرار غږ په انګريزي ژبه لنډه خبره وکړه.

وارخطا غږ امر وکړ: پاڅه.

دی ولاړ شو.

ـ بې غږ و غوره کوټې ته ننه وځه.

کوټې ته لاړ. اندېښنه يې يو څه کمه شوه. ګومان يې وکړ چې په رېښتيا امريکايان دي.

د دهليز او کوټې دروازې پورې شوې. بيا ورته امر شو: مخ په دېوال کېنه.

يوه شېبه چوپتيا وه. د تمانچې د ميل څوکه يې پر کوپړۍ کېښوول شوه. هماغه اول غږ وويل: دغه وسله لمبه پټ لري. غږ نه کوي. که ژوند غواړې نو رښتيا به راته وايې.

ـ صايب زه بې ازاره سړی يم. هاغه دي پوښتنه وکړئ ټول خلک مې پېژني.

ـ بس داسې وګڼه چې موږ هم بې ازاره خلک يو. د پيسو ځای راوښييه نور کار درسره نه لرو.

ـ پيسې؟ مسلمانه زه غريب سړی يم.

خبره يې ورپرې شوه: ډېرې خبرې نه. يوازې د پيسو ځای.

هغه ته شک ورولوېد چې امريکايان خو له پيسو سره کار نلري؛ نو دا به کوم خلک وي؟ په لړزانده غږ يې وويل: ولله که يې لرم. دروغ خو درته نه وايم.

ـ پرون دې اسلم خان نه لس لکه روپۍ واخيستې. چېرې دې ايښې؟

ـ اسلم خان؟ کوم اسلم خان يادوې؟ زه يې ولله که لا پېژنم.

د ... فلسفه

لنډې کيسې

www.eilia.org

پر ملا يې يوه کلکه لغته وخوړه. زورور درد يې له خولې چيغه وايسته. په چپ انډې باندې نسکور شو. د کوم چا لاسونو د هغه خوله وربنده کړه او بېرته يې پر خپل ځای کېناوه. دا څو مياشتې کېدې چې ملا يې خوږېده. درد يې له ملا څخه ښی سرېښنې او ورانه ته کوزېده. پښه يې هم ورسره خوږېده.

سړي د عمر ګل خوله هماغسې ټينګه نيولې وه. ويې پوښتل : څنګه پيسې راکوې که نه؟

ده غوښتل خبرې وکړي. سړي خپل لاسونه ايسته کړل. عمرګل په زګيروي وويل: اخ، مړ دې کړم... ولله که يې لرم.

ـ پرون دې په چاراسيا کې ځمکه ګرو کړه. لس لکه روپۍ دې نغدې واخيستې.

ـ دا دروغ دي.

يوه بل قهرېدلي غږ وويل: اوف وايم ما يې پخپله

هغه چوپ شو. نور څه يې ونه ويل. يوه شېبه ټول غلي وو. بيا هغه دوه کسان په انګريزۍ څه سره وويل. د کوټې او بيا د دهلېز دروازې خلاصې شوې. کوم يو يې انګړ ته ووت شېبه وروسته بېرته راغی. د ډبکې د سرپوښ د خلاصولو او د کوم شي د تويولو اواز پورته شو. سړي وويل: مه يې راکوه. اوس به دې له پيسو سره په پټرولو کې اور واخلې. ايرې به شې. داسې به وسوځېږې چې څوک دې وهم نه پېژني چې دا عمرګل و.

د عمرګل سپږمې د پټرولو په بوی ډکې شوې. په زارۍ يې وويل:

ـ د خدای لپاره دا کار مه کوئ. زه به

ـ پيسې راکوې که نه. دا دی اورلګيت مې تيار په لاس کې دی.

ـ درکوم يې. هر څه به درکړم خو چې ما...

ـ بې غمه اوسه. پيسې راکړه ځان خلاص کړه.

ـ پيسې د اوړو په کندو کې دي.

www.eilia.org

يوه سړي لاسي څراغ ولګاوه او له کوټې ووت. له تختې څخه د مېخونو د راایستلو اواز واورېدل شو. څو شېبې وروسته څراغ والا راغی په خوشالۍ يې په انګريزي ژبه څه وويل. بيا يې د عمر ګل خوله په يوه پلن رابرټېپ باندې بنده کړه. هغه چې د عمرګل سر ته يې تمانچه نيولې وه، وويل: شا ته به نه ګورې. اورلګيت مې لا په لاس کې دی.

څو کسانو په انګړ کې منډې کړې. عمرګل وېرېدلي شا ته وکتل. کوټه تشه وه. ورو ورو دهليز ته ووت. هلته هم څوک نه و. د دهلېز له وره يې سر راوکيښ د سپوږمۍ په تته رڼا کې يې يوه پښه ولېده چې پر دېوال واوښته.

★★★

د سهار نه بجې وې. عمرګل سر پر زنګانه ايښی و. مېرمن يې د ټيکري په پيڅکه خپلې اوښکې وچولې. پنځه کلن زوی يې له خپل ځايه پاڅېد، پر خپل کوناټې باندې يې لاس تېر کړ او ويې ويل: ببو دا ځای لوند دی. مور يې هم پر نيالۍ لاس تېر کړ. د کوټې له وره سره يې د اوبو ډبکې ته پام شو چې پرون يې لمر ته ايښې وه. ويې پوښتل: سړيه دا اوبه دې ولې تويې کړې.

عمرګل چابک ولاړ شو. ډبکه يې پوزې ته پورته کړه. ويې ويل: اوهو دا خو په رښتيا اوبه دي. خپلې بسترې ته چې لا هم وېړه وه ورټېټ شو. پوزه يې وسونګله. کېناست چورتي شو. مېرمن يې وپوښتل : دا څه کوې؟

د موبايل زنګ وشرنګېد. عمرګل پکې خبرې وکړې:

_ هه لالا ستړی مه شې!

_ نه والله دلته خو نه دی راغلی. زه هم په کور کې يوازې وم، کوچنيان مې د باجه کره ول.

_ دا څه وايې؟

_ ته ودرېږه زه به درشم.

د ... فلسفه

لنډۍ کيسې

www.eilia.org

جورابې يې په پښو کړې. مېرمن يې وويل: خير خو به وي؟

ـ لالا مې و، ويل يې چې فريد ورک دی.

★★★

جنت گل له خپل سره پټکی لرې کړ. پر خرېيلي سر يې لاس تېر کړ. پښې يې وغځولې او ويې ويل: زه پوهېدم چې دا دسپي زوی به يې کومه ورځ رانه بيايي. د هغه ټېلفون هم کار نه کوي. هغه هم ورک دی.

عمرگل وپوښتل: څه دې اورېدلي وو که څنگه؟

ـ چې امريکايانو سره ترجمان شو لا يې مياشت نه وه پوره چې د دې هلک کيسې به يې کولې. ويل يې چې کوم انډيوال يې په لس زره ډالرو باندې سړی کاناډا ته رسوي. ټوله ورځ يې د کاناډا خبرې کولې.

ـ نو ته څه وايې دومره پيسې به يې لرلې؟

ـ څه خبر. په دې حرامونو څه اعتبار. گومان کوم چې خپله اصلي تنخواه يې راته نه وه ښيبلې. ما ته خو يې په مياشت کې پنځه سوه ډالره راوړل. خدای خبر چې څومره نورې به يې ځان سره ساتلې.

ـ تا هغه هلک ليدلی و؟

ـ هو، وايم لس وارې له فريد سره کور ته راغلی و.

په دېوال باندې ځړېدلي عکس ته يې اشاره وکړه: دغه دی. د فريد څنگ ته چې ولاړ دی.

عمرگل عکس ته ځير شو. سترگې يې په عکس ښخې شوې. د فريد په غاړه خړه برگه کورتۍ وه. عمرگل ته هغه پښه ورياده شوه چې بېگاه يې د سپوږمۍ په تته رڼا کې ليدلې وه چې د انگړ پر دېواله اوښته. د هغه سړي په تن کې همداسې برگ پتلون او په پښو کې يې خړې موزې وې. د غله خبره يې په غوږ کې انگازې وکړې: اوف وايم ما يې پخپله...

په بېړه يې د واسکټ له جېبه د ځمکې گروي خط، چې فريد ورته ليکلی و، راوايست. د عمرگل په

www.eilia.org

ذهن کې د غله خبره پوره شوه: اوف وایم ما یې پخپله ګروي خط ولیکه.

★★★

یوولس بجې وې چې له درې ساعته باران وروسته اسمان شین شوی و. د ماسپښین یوه بجه وه. ګلاب په بګرامیو کې د ښتو بټیو ته نژدې په یوه کنده کې ولاړ و. د کندې په هوار ډګر کې یې د نیم وچوخښتو له پاسه پلاستیک لرې کړ. د کندې ژور ځایونه له اوبو ډکې وې. دوه اوسپنیز سطلونه یې په یوه لاس او بېلچه یې په بل لاس پورته کړل. د کندې بل سر ته لاړ چې له سوړې څخه شګه راوړي. په سوړه کې یې دوه ګامه واخیستل او ناڅاپه ودرېد. د اممم امممم اواز یې واورېد. له جیبه یې څراغ راوایست. د سوړې په اخر سر کې دوې بوجۍ ښورېدلې. ګلاب بوجیو ته ورنژدې شو. په بوجیو کې یې سړي اچولي وو. د بوجیو له خولو څخه د هغوی پښې راوتلې وې. خړې موزې او برګ پتلونونه یې اغوستي وو. په لړزانده غږ یې وپوښتل:

ـ اې تاسې څوک یئ؟

بوجۍ وښورېدې؛ د امممم امممم غږ راغی خو چا خبرې ونه کړې.

یوه شېبه یې بوجیو ته وکتل. له سوړې چابک راووت. منډه یې واخیسته. سړک ته یې ځان ورساوه. د سر دسمال یې په هوا کې ورپاوه او په لوړ غږ یې وویل: هــــــې ودرېږه. تا ته وایم ودرېږه.

بایسیکل والا ودرېد. ګلاب د بایسیکل پر کنجوغې سپور شو او د بګرامیو په ولسوالۍ کې کښته شو.

شېبه وروسته له ګلاب سره پولیسان راغلل. بوجۍ یې راوایستې. دوه ځوان هلکان پکې وو. لاسونه یې شا ته تړل شوي او پر خولو باندې یې پلن رابرټیپونه لګېدلي وو.

★★★

بېګاه عمر ګل د ټلویزیون خبرونو ته ناست و.

فرید یې په ټلویزیون کې ولید. ځان یې ملامت کړ

www.eilia.org

چې ناحقه یې پر هغه باندې بدگومان کړی و. په زړه کې یې وویل:
فارسیوانو رښتیا ویلي:
مال گم ایمان بای.

په خبرونو کې وویل شو چې د دوولسمې حوزې پولیسو دوه تنه د ټښتونکو له منگولو وژغورل، خو ټښتونکي پر تېښتې بریالي شول.

عمرگل وویل: لالا څه ښه شو چې فرید جان په خیر سره پیدا شو.

جنت گل وویل: هو وروره دا خو ډېر د شکر ځای دی. د جومې په ورځ به له خیره یو خیرات وکم که څه وایې؟

_ ولله دا خو به ډېر ښه شي. وایي صدقه رد بلا.

_ رښتیا ما وې که یو څو روپۍ راته راکې بیا چې فرید جان خپله تنخواه واخیسته دربې کړم.

_ ما به همداسې درکولې، پیسې به مې د فرید جان تر سره ځارولې خو څه ووایم.

جنت گل په خندا وویل: ډارېږه مه، نې خورم.

عمرگل سوړ اسویلی وایست او د تېرې شپې کیسه یې ورته وکړه.

جنت گل هغه ملامت کړ: نو ولې دې سهار راته ونه ویل. یوه چاره ماره به مو ورته کړې وه.

_ ما وې ستا زوی ورک شوی، همدومره غم دې بس دی. دا نو مناسبه نه وه چې د پیسو د ورکېدا مې درته ویلي وای.

_ پولیس ته دې خبر ورکړی؟

_ نه نن خو ټوله ورځ تا سره وم.

_ خیر غم مه کوه، سبا به زه درسره لاړ شم.

عمرگل کرار له ځایه پاڅېد یو لاس یې پر زنگون او بل یې پر ملا ټینگ کړي وو. له خولې یې کرار زگیروی ووت.

_ جنت گل وویل: ملا خو دې ښه شوې وه؟

www.eilia.org

ـ هو، ښه وه خو بیګاه هغو نامردو په لغته ووهلم.

مخ يې فريد ته واړوه: فريدجانه! وچ پر هماغه ځای چې ډاکټر تا تـه ښودلی و.

بېرته يې جنت ګل ته وکتل: اخ، فريد جان چې ډاکټر ته بیـولی وم، هغه ورته تاواني ځای ښودلی و.

★★★

د اتمـې حوزې جنـايي امـر د دوسـيې ورقـې اړولـې رااړولـې. جميـل وپوښتل: لکه چې قضيه جالبه ده؟

ـ هو، د همدې لپاره مې راوغوښتې. هغه دوه هلکان چې تېـره هفتـه تا په سوړه کې موندلي وو، يو يې فريد نوميږي. په هماغه شپه د کارتـۀ نـو په څلورم سړک کې د سرقت يوه پېښه هم شوې ده.

ـ نو!

ـ سرقت د فريد د اکا پـه کـور کـې شـوی. فکـر کـوم چـې دغـه دواړه پېښې سره تړلي دي.

ـ کېدای شي خو ته ولې داسې فکر کوې.

ـ د فريد اکا وايي چې د غله په تن کې برګ پتلـون و او پـه پښـو کـې يې خړې موزې وې. تا چې هغوی ولېدل څه شی يې اغوستي وو.

ـ همدا امريکايي خړې موزې او برګ پتلونونه. ګوره نعيم خانه! دا خو ټول ترجمانان اغوندي او بيا تا وويل چې غـلا پـه شـپه کـې شـوې ده، خـو فريد دوی مازديګر اختطاف شوي وو.

ـ دا به څوک سپينوي چې هغوی په ريښتيا اختطاف شوي وو؟

★★★

ګـلاب د خښـتو غالـب چپـه کـړ. لاسـونه يـې وڅنډل او د جميل څنګ ته ودرېد.

جميـل وپوښـتل: ښـه نـو تـا هغـه هلکـان څـه مهال وليدل.

د ... فلسفه

لنډې کيسې

www.eilia.org

ـ هماغه ګړۍ چې ولسوالۍ ته درغلم.

ـ ته خو به له سهاره دلته وې، څنګه دې مخکې ورته پام نشو؟

ـ نه سهار خو باران اوربده. زه هماغه ګړۍ راغلم چې لـه خښـتو نـه پلاستيک لرې کم.

ـ پلاستيک دې څه مهال اچولی و؟

ـ ما نه و اچولی، ورور مې د شپې ورته راغلی و.

ـ هغه چېرې دی؟

ـ په کور کې.

جميل له ګلاب سره د هغوی کور ته لاړ. طالب جان د خـره لـه سره د شوتلو پنډه کوزه کړې وه او د خره کته يې سموله. د هغوی پـه لېـدو مخـې ته يې ورغی. ويې ويل: لالا خير خو به وي؟

جميل وويل: خيريت دی بس له تا به يو څو پوښتنې وکړم.

ـ امر صايب امر وکه.

ـ په هغه ورځ چې په سوړه کې مو هغه کسان وميندل، تا پـر خښـتو باندې پلاستيک وېړ کړی و.

ـ هو.

ـ څه مهال به و؟

ـ د شپې دوولس نيمې بجې وې. زه ساراګشت ته ووتـم. ومـې ليـدل چې په اسمان کې وريځې لربر کېږي، ما وې باران به واوري.

ـ تا هلته څه ونه ليدل؟

ـ نه، ولله توره شـپه وه. خـو زه چـې کنـدې تـه نـژدې شـوم يـو مـوټر حرکت وکړ.

ـ څنګه لاړ؟

ـ مخ په کښته، د ولسوالۍ خوا ته.

ـ موټر څه رقم و؟

www.eilia.org

ـ سم نه رامالومېده، خو گومان کوم چې کورولا به وه؟

★★★

جمیل له نعیم سره په خپل دفتر کې ناست و.

جمیل له کاغذو ډکه دوسیه پر مېز کېښود او له فریدخخه یې وپوښتل: تا ویلي و چې د اختطاف چیانو مخونه دې نه وو لیدلي؟

ـ هو، زموږ سترگې یې تړلې وې.

ـ تا خو دا هم ویلي دي چې په سپینه کورولا موټر کې یې تښتولي وئ؟

ـ هو، همداسې ده.

ـ ستا سترگې پټې وې نو کورولا موټر دې څنگه ولېد؟

ـ کورولا، هغه مې، له غږه مې وپېژانده چې کورولا به وي.

ـ او رنگ یې؟

د فرید رنگ سور شو. ځواب ته یې ځان جوړاوه، خو دا وار نعیم خان وپوښتل: دغه دسکش پېژنې؟

ـ دا خو د جراحي دسکشونه دي.

ـ ته خو به ډاکټر نه یې؟

ـ نه.

ـ نو د جراحي دسکشونه ستا په الماری کې څه کوي؟

ـ هسې مې راوړي وو. ما وې په رنگمالي کې به یې واغوندم.

ـ او دغه استعمال شوې جوړه یې د عمرگل د کور په خوا کې مونـدل شوې ده. هوښیار سړی یې خو ډېر نه.

جمیل پاڅېد د فرید په لاسو کې یې زولنې واچولې او ویې ویل: تـا د دې لپاره چې د گوتو نښې دې پر ځـای پـاتې نشي- دســکش اغوســتي وو خــو خــامي دې دا وه چــې دسکش دې د کوځې په سر کـې اچـولي وو. پـر دې

د ... فلسفه

لنډې کیسې

www.eilia.org

دسکشو يوازې ستا د ګوتو نښه شته. اوس نو نورې خبرې ته راته وکه چې شريکان دې څوک وو؟

د فريد سر ځوړند و. په ارام غږ يې وويل. هغوی زموږ انډيوالان وو، خو ناځواني يې راسره وکړه. ما ورته ويلي وو چې پنځه لکه روپۍ به زه واخلم او پنځه نورې به دوی په خپلو کې سره ووېشي.

ـ دوی څو کسان وو؟

ـ له قيس سره درې کسان.

ـ بيا؟

ـ پيسې چې مو واخيستې موټر يې د بګراميو خوا ته روان کړ. د اکرم کور په بګراميو کې و. کندې ته چې ورسېدو اکرم او عثمان د سحراګشت په پلمه له موټره کښته شول. شېبه نه وه تېره چې زما او د قيس پر ټېکونو يې تمانچې کېښودې. پيسې يې را نه واخيستې او موږ يې په کنده کې واچولو.

ـ اوس به هغوی چېرته وي؟

ـ د کاناډا په لاره کې.

www.eilia.org

محب الله زغم

# کور

۹

نن يې هم کور هماغه رنګ او هماغه ښکلا لرله خو هغه د نورو ورځو په څېر خوندځنې وانه خيست . کور يې د شېرپور د کورونو برم او جلال نه درلود او نه يې پرې هاغومره پيسې لګولې وې خو د خپلو انډيوالانو په مرسته يې په لږو روپو ښکلی کور جوړ کړی و. د

www.eilia.org

اصيل خان اکثر ملګري د ودانيو او مهندسۍ انجنيران وو خو پخپله د سړک جوړولو انجنير و. پخوا به چې له کاره راستنېده اوکور ته ننوته نو د کور په لېدو به يې د ورځې ستړيا هېره شوه. هغه ته خپل کور تر هرې ماڼۍ ښکلی برېښېده ځکه چې په ډېره خواري يې ودان کړی و. خو نن يې چورت خراب و. نه پوهېده چې څه وکړي. ډوډۍ چې يې وخوړه د خوب خونې ته لاړ. مېرمن يې ورته وويل: خبرونه نه اورې؟

هغه ځواب ورکړ: نه، نن مې يو څه کار پاتې دی. يو ښه ټېنګ چای راته راوړه.

اصيل خان اکثره وخت لمونځ په جماعت کاوه خو نن جومات ته لاړ نشو. لمونځ يې په کور کې وکړ. له ښې مټ څخه يې په سره څرمن پوښل شوی تاويز، چې لاشټيک ورپورې ګنډل شوی و، راوکيښ. لپ ټاپ کمپيوټر او نقشې يې راوايستې. فورمولونه به يې جوړول او ړنګول. په کمپيوټر کې به يې يوه نقشه وکښله ښه به ورته ځير شو، بيا به يې سر وښوراوه او  پر بلې نقشې به لګيا شو. چای به يې يخ شو نيم به يې بېرته چاينکې ته واچول او ګېلاس به يې له سره ډک کړ يو غړپ  به يې ترې وکړ بيا به يې چاې هېر شو.

هغه د يوه نوي سړک  پر پروژې کار کاوه. هره نقشه چې يې کښله لس دولس کورونه په کې ړنګېدل. په دې کې درې کورونه داسې وو چې کور خو نه بلکې جونګړې ته ورته د شپې تېرولو ځای و. اوسېدونکي يې خورا غريب او بېوزلي وو. اصيل خان ته يې قران نيولی و چې خدای ته وګوره زموږ کورونه مه خرابوه. هغه چې هر څه فکر کاوه چاره يې نشوه موندلی. دغه کورونه په داسې ځای کې پراته وو چې ۷۰ درجې ګولايي يې جوړه کړې وه که سړک يې همداسې جوړ کړی وای نو په ګانده کې  د  موټرو د ټکر خطره زياتېدله ځکه چې د ليد ساحه به يې هډو نه لرله. بلې خوا ته يې سيند تېر شوی و او دا نو بل غم و.

www.eilia.org

اصیل خان حیران و چې څه وکړي. که سړک سم جوړ کړي کورونه ورانیږي او که کورونه پرېږدي نو داسې سړک جوړیږي چې په ورځ کې به خامخا یو دوه ټکره وربادنې کیږي او د ډېرو خلکو د مړه کېدو سبب به ګرځي. د شپې تر ډېر ناوخته یې کار وکړ خواخر په نهیلۍ سره وېده شو.

سهار چې له خوبه راپاڅېد ژر یې کمپیوټر چالان کړ یوه نقشه یې وکښله، څو فورمولونو باندې یې محاسبې وکړې په څېره کې یې د خوشالۍ او بریا څرک راوځلېد. ځان سره یې وویل که خدای کول نو د هغوی کورونه مې بچ کړي دي.

دفتر ته چې ورسېد د موسسې امر ته یې خپله نقشه وښودله. په هیله منو سترګو یې امر ته وکتل چې ګوندې طرحه به یې منظوره کړي.
امر ورته وویل: انجنیر صایب! ستا طرحه دا ده چې سړک د دې کورونو له څنګه د سیند پورې غاړې ته وباسو؟

ـ هو صایب.

ـ دې ته دې فکر کړی چې د دوو پلونو لګښت څومره دی؟

ـ هو، محاسبه مې کړې، شپېته زره ډالره به پرې ولګېږي.

ـ ښه نو ولې دومره اضافي لګښت ومنو؟ ولې سړک هماغسې سیده نه جوړوې؟

ـ که داسې وکړو نو ۷۰ درجې ګولایي په کې راځي.

ـ ګولایي چېرته راځي دغه کورونه چې ونړوو خو بیا ګولایي نه راځي هسې هم بې نقشې کورونه دي دولت یې د ړنګولو اجازم راکړې.

ـ خبره دا ده چې دا خلک ډېر غریب دی د دې وس نه لري چې بل ځای کور جوړ کي.

ـ ته نو عجب سړی یې ځان نه دې حسن غمکش جوړ کړی. په ما و تا یې څه چې غریبان دي.

د ... فلسفه

لنډې کیسې

www.eilia.org

څو شېبې دواړه غلي وو. امر بیا وویل : فنډ والا به چېرې د پلونو پیسې راسره ومني. ستا په اوله طرحه کې خو دا شی نه و.

اصیل خان چوپه خوله د امر خبرو ته غوږ و. پخپل ذهن کې د کوم ښه دلیل په لټه کې و خو نه یې شو موندلی. د امر خبرو یې په غوږ کې انګازې کولې، سترګو ته یې قران شریف په لاس هغه سپین ږیری ولاړ و چې ده ته یې زارۍ کولې. دې ته یې پام نشو چې د موسسې سکرټره کله دفتر ته ننوته؛ خو د امر غږ له چورته وایست:

انجنیر صایب ته وګوره چې ښاروالې بیا څه لیکلي دي.

اصیل خان د سکرټرې له لاسه مکتوب واخیست. په بې خوندۍ سره یې چوپه خوله په لوستلو پیل وکړ. یو څو کرښې چې یې ولوستلې یو دم یې د تندي ګونځې ړنګې شوې پر شونډو یې موسکا راغله او ویې ویل: وشول.

امر پوښتنه وکړه: څه وشول؟

ـ صایب! ښاروالۍ لیکلي دي چې د سیند په ختیزه خوا کې دوی کومه بله پروژه لري او موږ باید خپله پروژه د سیند پورې غاړه پلې کړو.

امر په خپلو شونډو باندې سګرټ ونیو، لایټر یې بل کړ او پرته له دې چې اصیل ته وګورې ورته یې وویل: نو ته ولې خوشاله یې؟ که د بېوزلو د کورو په خاطر خوشالي کوې نو هغه خو به ښاروالې هم پرې نه ږدي. ښاروالې به یې ونړوي.

د اصیل شونډې سره ورغلې ویې ویل: هو، مګر قران خو به ما نه وهي.

www.eilia.org

# طنزونه

محب الله زغم

د ... فلسفه

لنډۍ کيسې

www.eilia.org

# Daily routine

## ۱۰

څو کاله پخوا د انگریزي ژبې په کورس کې مـو اسـتاد د محـاورې پـه برخـه کې هره ورځ راباندې زموږ ورځنۍ چارې یاDaily routine تکرارولې.

**I wake up at 6 o'clock in the morning, I wash my face and brush my teeth then….**

په دې توگه مو تر ډېرته څملاستو پورې خپل ټول ورځني کارونه بیـانول. جوته ده چې په دې خبرو کې به مو د لاپو څه کمی نـه و. مـوږ زلمـي وو او په ټولگي کې راسره پېغلې هم وې نو ښکاره خـبره ده چـې ځانونـه بـه مـو ډېر عصري او پوه ښیبل. خو زه به اوس تاسو تـه خپـل ریښـتیاني Daily routine دروااورووم:

سهار وختي د ملا په بانگ راویښېږم، اودس کوم او جومات تـه ځـم. لـه جوماته چې ډېرته کاله ته راځم گورم چې بچیان مې ټول ویده دي او مور یې په نغري کې اور بـل کـړی او چای پخوي. یو څو شېبې یوازې سر کېنم او وظیفـه کوم خو زړه مـې تنـگ شي پـه لـوړ غـږ چیغـې وهـم

www.eilia.org

پاڅېږئ هله ژر شئ... تاسو ته وایم هو! هله جومات تـه لاړ شـئ سـبقونه مو ووایئ خدای مو خوار کړه. هغوی ځانونه په بړستنو کـې نغـاړي او خپـل سرونه هم پټوي چې زما غږ وانه وري خو زه یې کله پرېښودونی یم. کـه پـه ناورو ونه شو نو یوه نیمه لغتـه هـم ورکـوم او ټـول پـه زوره راویښـوم. زه پـه خپله ولله که د جومات دومره شوقي یم او که څوک راپسې بد ونه وایي نـو د سهار جمعې ته خو بیخي نه ورځم خو نه پوهیږم ولې لـه نـورو سره رخـه کوم او چې زه ویښ یم د نورو خوب نه شم زغملی. هلکان چې جومـات تـه لاړل بیا یې د مور وار دی چې زیـاړو تـه مـې ټینگـه شي. سـاعت تـه چـې گـورم رابانـدې ناوختـه وي او د چـایو درک نـه وي. لـه کړکیـه سر وباسـم او چیغې وهم وه خړمبنـې څه شوې ژر کوه هله چای راوړه.

هغه مې زیاړه راغبرگـوي: خـړمبن خـو تـه یـې چـې لانـده لرگـي دې راوړي، نیمې شپې نه ورته ناسته یم خو دا بلېږي نه.

پوهېږم چې گناه مې خپله ده خو بیا هم یو څو ښکنځلې ورتـه کـوم که نه خو بیا به یې جرات زیات شي او هر وخت به راسره ژبه ووهـي. چـای چې مې وخوړ دریشي اغوندم اتو یې خرابه وي بیا چې مې څـه خـولې تـه راځي د وړو مور ته یې وایم. هغه د ټیکري په پیڅکـه بانـدې پـزه پـاکوي او په ژړغوني غږ وایي : خدای دې زمـا بخـت خـاورې کـي پـه هـره خبـره راتـه زیاړې کوې.

له کوره چې راوځم تر پاخه سړکه پورې دوه پاوه په کچه سـړک بانـدې د پښو مزل کوم. هر موټر چې مې له څنگه تېرېږي په دوبي کې مې یـو مـن خاورې سږو او کولمو ته ننه باسي او په ژمـي کـې مـې بوټونـه او پتلـون پـه خټو کوي زه چې بله چاره نه لرم نو په زیاړو له موټروانانو څخه غچ اخلـم.

هغوی هېڅ کله هم زما غږ نه اوري خـو هسـې خپـل زړه خوشالوم چې گواکې همداسې خو مـې پـرې نـه ښودل.

www.eilia.org

د عملې موټر نه لرو کله په ملي بس او کله په میني بوس کې دفتر ته ځم. په موټر کې ځوک مې پر بوټانو راخېژي، ځوک مې ټېل وهي یو نیم خو ان خپل نسوار هم راباندې تو کوي؛ نوکله له کلینر سره او کله مې له سپرلیو سره لانجه پورته کیږي. که مې سیال عاجز وي او ځه راته ونه وایي نو تر ښاره پورې یې زما له ښکنځلو خلاصی نشته او که لږ بدماش غوندې وي او زیاړه مې راوګرځوي نو پخپله غلی کېږم. هره ورځ لارې بندې وي او یو_ یو نیم ساعت په موټر کې ناست یا ولاړ یم هر ځل چې موټر په کندو کپروکې ټکان خوري شل وارې حکومت ته زیاړې کوم چې ولې زموږ سړک نه جوړوي که دقیق یې محاسبه کړم نو درې زره یو سل و شل زیاړې مې حکومت ته رسیږي.

دفتر ته چې ورسېږم د حاضرۍ مامور راته وایي چې حاضري د ریس صایب په دفتر کې ده . مجبور هلته پسې ورځم سلام اچوم او لاس پر سینه درېږم. ریس په ترخه لهجه راته وایي : انځر ګله ! ته بیا ناوخته راغلې؟

زه په عاجزۍ ځواب ورکوم : صایب د عملې موټر نشته په ملي بس کې راځم.

لا مې خبره نه وي خلاصه چې هغه بیا غورېږي : دا نور به په طیاره کې راځې چې وختي رارسیږي هه؟ دا دریشي دې ولې داسې ده ټوله ګونځې ګونځې؟ لږ ځان وپېژنه مدیر سړی یې ځه پنډي خو نه یې.

_ والله صایب برق نه لرو.

_ راځه راځه حاضري دې امضا که.

ځان سره بونګېږم او زړه کې مې ریس ته ښکنځلې کوم چې ته زما له حاله ځه خبر یې پخپله دولتي موټر لرې کور والا خو دې ان حمام ته هم ستا په موټر کې ځي او زموږ لپاره بیا د عملې موټر نشته. خپلې شعبې ته چې ننوځم نو د ټولو مامورانو دریشۍ نوې او اتو کړې

www.eilia.org

وي ورته مې رخه راځي او ټولو ته د شونډو لاندې زیاړې کوم چې دومره پیسې له کومه کوئ. زما دغه یوه جوړه دریشي ـ دوه نشوه خو تاسې په میاشت کې یوه جوړه نوې اخلئ. هغوې چې ما ته ګورې نو په ملنډو راته وایي : مدیر صایب لکه چې بیا دې د ورو مور سره جګړه شوې ده چې داسې په غوسه یې.

زه ورته تندی تریو نیسم . هغوی پوهېږي چې له ټوکو سره مې نه ده جوړه، نو ټول غلي کيږي.

د کار په ترڅ کې مې ترلاس لاندې ماموران څارم. هر یوه ته یې ځینې کسان د مېز لاندې پیسې ورکوي هغه چې یې کار خلاص کړ مکتوب یې ما ته راوړي او راته چاپلوسي کوي چې : مدیر صایب محترمه ! دا سړی زما بیخي نږدې خپل دی که دا مکتوب یې ورته امضا کړې صایب ډېره مهرباني به دې وي. زه په خوله خو ورته وایم ولې نه چې ستا خپل دی زما هم دی؛ خو په زړه کې ورته ښکنځلې کوم چې دوسه! دا دې څه رقم خپل دی چې پیسې ته ځنې اخلې او کار یې په ما خلاصوې. ځان ته مې غوسه راځي چې ما ته ولې څوک پیسې نه راکوي او ولې ما ته د رشوت چل نه راځي؟ کوم وخت چې څوک یو څو غیرانه راکوي نو هماغه ورځ تر مازدیګره پورې زړه مې ریږدي چې څوک راباندې پوه نشي.

یوه ورځ اداري مدیر راته وویل چې وه انځرګله خبر یې که نه ماموران دې درباندې ( وندپوه ) نوم ایښی دی.

ما وې نه ولله دا وند پوه یې بیا څه شی دی کومه نوې علمي رتبه خو به نه وي؟

_ نه بابا هغوې وایي مدیر انځرګل چې څنګه رشوت واخلي نو رنګ یې تښتي او مور ټول وربانديې پوهیږو چې وند یې وهلی.

زه چې ګورم چې ټولو ماموران بډې وهلې دي او یوازې ما ته څه نه دي رارسېدلي نو په لوړ غږ

www.eilia.org

چې ټول يې واوري په سپکو سپورو سر کيږم او په وند وهونکو مې زړه تشوم. لا مې د خولې ځګونه نه وي وچ چې د ريس سکرټره راځي او وايي چې ريس صايب غوښتی يې. چې څنګه د ريس دفتر ته ننوځم هغه له څرخي څوکۍ راپاځي د دفتر په مور غالۍ باندې په ګرځېدو شي خپله نيکټايي ارتوي او راته وايي: چا رشوت اخيستی چې ته داسې بد رد ورپسې وايې، هه؟

زه چې څو پورې ځواب ته خوله جوړوم هغه خپله خبره غځوي : مدير سړی يې ماشوم خو نه يې ته دومره نه پوهيږې چې دا خبرې مو د ادارې رنګه بدوي؟ وروسته يې لهجه نرمه شي سل دوه سوه روپۍ په لاس کې راکوي او وايي : هه دغه پيسې درواخله، ماشومانو ته دې څه ميوه دانه به واخلې نور به دې خولې سره پام کوې. پوه شوې که نه؟

زه په ښه صايب هو صايب ويلو د هغه له دفتره وځم اوخپلې شعبې ته بېرته په خوشالۍ ورځم. تر رخصتۍ پورې بيا په چا کار نه لرم.

چې د کور خوا ته روانېږم بيا هماغه د موټر او د لارې لانجې دي او زما ښکنځلې. په کور کې مې هم د زياړو لپاره پلمې ډېرې وي د چا سبق نه وي زده، چا په کوڅه کې جنګ کړی وي، څوک خيرن وي، د بل کميس شکېدلی وي او له مور نه يې ديګ خراب شوی وي.

په دې توګه زما په ورځنيو چارو کې يو کارخورا ډېر تکراريږي او هغه ښکنځل دي که فريکونسي ادورب هم ورته وکاروم نو داسې به ووايم چې: I always زياړې کوم.

د ... فلسفه

لنډې کيسې

www.eilia.org

محب الله زغم

پي ار ار

۱۱

www.eilia.org

یاره ښه ده چې ملي بیرغ مو تر دې زیات رنګونه نه لري که نه نو زموږ د روغتون به څه حال و. زموږ بیرغ تور، سور او زرغون رنګونه لري. دغه هر رنګ یې زموږ پر روغتون باندې یوه بلا راوړې ده. یو ځل خو سره بلا را نازله شوه،د ایزمونو او زنده باد _ مرده باد په تله کې یې وتللو. د روغتون ډېر تکړه او پوه ډاکتران یې په همدې نومونو پسې واخیستل ، بندیان یې کړل او هغوې یې چې بې ایزمه وو له منځه یوړل.هغوې چې په تول پوره وختل بیا تر خپل اصلي مسلکه په جلسو، لاریونونو او د افغان _ شوروي د دوستۍ په خونو کې ډېر بوخت وو.

کمبخت روغتون مو لا د مسلکي کادرونو تشه نه وه جبیره کړې چې د شنې بلا وار راغی. د ملګري او رفیق ځای برادر او مجاهد ونیو. د انقلاب سر جهاد وخوړ. فرکسیون او حزب خپل ځای تنظیم ته ورکړ. د لقوبونو او ستاینومونو خیرات و. هغوې چې په جعلستان کې د طبي لمړنیو مرستو درې میاشتني کورسونه یې ویلي وو ډاکتران بلل کېدل. هغه څه کوې چې ځینو فرقه مشرانو هم ځان ته ډاکتر، انجنیر، پروفیسور او دې ته ورته ستاینومونه ورکړي وو. د شنې بلا په واکمنۍ کې څوک د ((رقص مرده)) له ډاره او څوک په دې خاطر چې ( P1 P2 ) کې نه راتلل نر غوندې وتښتېدل. دغه بلا د غنیمت او وند په نامه زموږ د روغتون وسایل ولوټل ان د عملیات د خونې څراغونه یې هم کباړیانو ته وسپارل.

د بلا جنګۍ ورځې وې. لا د توري بلا سر په سروبیو کې و چې د شنې بلا لکۍ په تېښته له کوتله واوښته. د توري بلا هر څه تور وو: تور زړونه ، تور فکرونه، توري پګړۍ او تور نیتونه. دې بلا خو اول د نر او ښځې په

www.eilia.org

فورمول کې سره تقسیم او منفي کړو او وروسته یې د مطلوب او نا مطلوب له چاڼه تېر کړو.

له دې هر څه سره سره مو روغتون مړ ژواندی پاتې و. موږ خوشاله وو چې د بیرغ رنګونه مو همدومره وو او که خدای کول نور به له بلاوو بې غمه شوي یو خو ته مه وایه چې درې واړه رنګونو سره ګډ شول او برګه بلا یې جوړه کړه. له دې بلا سره د ( سي ګانو) بازار تود شو: دیموکراسي ، پالیسي، چاپلوسي، انګلیسي ،دیپلوماسي ، او زموږ د خپلې ژبې ځیني ( سي ګانې ) ښه په کش کې شول.

آرونه ( R ) هم په سیالۍ کې تر ( سي ګانو ) کم نه وو. DDR , PRR او خداې خبر چې څومره نورې کلمې په R بانديې سینګار شوې. د PRR وایرس په چټکۍ سره زموږ تر روغتونه هم راورسېد.موږ له ډېرو ازموینو تېر شوي وو او ګومان مو کاوه چې نور به نو یوازې د محشر۔ امتحان پاتې وي خو PRR یوې بلې ازموینې ته هم برابر کړو. زموږ روغتون یوازې د جراحۍ څانګې لرلې. په جراحي کې تیوري او عمل دواړه مهم دي او کله کله عمل تر تیوري زیات په کار راځي خو له جرا حانو څخه یې یوازې د تیوري ازموینه واخیستله هغه هم په انګلیسي ژبه. چا چې ورنه امتحان واخیست ډاکتران نه بلکې د منجمنټ متخصصان وو او د نمرې ورکولو معیار هم لویشت و. پایله دا شوه چې له درې څلور تنو پرته ټول نوي فارغ شوي ډاکتران په روغتون کې پاتې شول او تجربه لرونکي جرا حان وشړل شول. تر ټولو زوړ کس چې په روغتون کې پاتې شو بابه سیف د مړو چوکیدار پنځوس کلن و. ورپسې بیا زه اداري مدیر د پنځه څلوېښت کالو وم. د مړو چوکیدارۍ ته بل کاندید نه و او زما د چوکۍ ضمانت خو انګلیسي اوکمپیوټرکړی و.

بله ورځ روغتون ته د جرا حي پنځه _ شپږ عاجل ناروغان په یوه وخت راوستل شول. هغه څو تنه تکړه جرا حان چې پاتې وو په عملیاتونو لګیا

د ... فلسفه

لنډې کیسې

www.eilia.org

شـول خـو دوه ناروغـان همداسـې پـه ډاګ پراتـه وو او څـوک نـه وو چـې عمليات يې کړي.په PRR کې کامياب شـوي نـوي ډاکـتران همداسـې ولاړ وو. خبره ريس ته ورسېده. ريس له دې ډاکترانو څخه وپوښتل: څنګه چل دی په تاسو کې يو هم نه پوهېږئ چې له دې ناروغانو سره څه وکړئ؟

هغـوې ټـول د تجويـد د شـاګردانو پـه شـان پـه يـو اواز شروع کـړل : صايب ! پارا مډ لاين ( para midline ) شـق ورتـه اجـرا کېـږي ، عضـلات او صفاقونه يې تسليخ کيږي...

ريس وويل: نو څه ته ګورئ خو عمليات يې کړئ کنه.

ډاکترانو بيا د کورس په بڼه سر شول : صايب موږ په تيوري پـوهيږو خـو په عمل کې مو کار نه دی کړی.

ريس له ډاکترانو سره په لانجه و چې د وزير زنګ ورتـه راغـی. خـبره داسـې وه چـې يـو نـاروغ د پارلمـان د يـوه وکيـل د خوابـښې د مامـا د لـور خسرګنی و. په هغه ورځ خو يوه چاره وشوه او د بل روغتون ډاکتران يې په منډه راوغوښتل او خبره خلاصه شوه.

سبا ته يې په همدې ستونزې باندې جلسه جوړه شوه.ټول پرسـونل تـه يې ويلي و چې پوره پر نهو بجو دې جلسې تـه راشي. زه اول کس وم چـې سالون ته ننوتم پاو باندې نه بجې وې. تر لسو پورې ټول ډاکتران، نرسـان او کارګران حاضر شول . ريس لس نيمې بجې راغې. وزير هـم يـولس بجـو ته راتلونکی و خو تر دوولسو بجو پورې يې درک نه شو معلوم. ريس هـم د هغه تر راتګه پورې هره خبره شپږ شپږ ځله تکرار کړې.

وزير چې راغی نو د مسالې د اهميت په هکله يـې خپلـه عالمانـه!؟ وينا واوروله. ويې ويل چې موږ مجبور يو چـې د PRR قـانون پـلی کـړو بلـه چاره نه لرو خو ورسره دغه لانجه هم لرو چـې پـرون ټولو ولېده. په پای کې يې د ستونزې د حل لپـاره د ګډونوالو نظر وغوښت.

د ... فلسفه

لنډۍ کيسې

www.eilia.org

ټول چوپه خوله ناست وو. بابه سیف چې په سترګو کې یې د سګرټیو خمار ښکارېده لاس جګ کړ. وزیر اجازه ورکړه چې خپله خبره وکړي. هغه وویل: صایب ! بلا دې واخلم قربانه داسې وکړئ چې دا مریضان هم PRR کړئ هر څه به سم شي.

ټول د هغه خبرې ته غلي او حیران شول. ریس ورته بد بد وکتل. څو شېبې چوپه چوپتیا وه . د ټولو سترګې وزیر خوا ته وې. وزیر نور نو د خپلې خندا مخه ونه شوه نیولی، کټ کټ په خندا شو. دې سره د ټولو د خولو قلفونه مات شول. وزیر همداسې په خندا له تالاره ووت او مور هم ورپسې روان شو.

www.eilia.org

محب الله زغم

# سیالۍ

۱۲

یاره په ژوندکې مې داسې مسابقه نـه وه لیـدلې. ویانـد د لـوبې پـه هکلـه وویل چې دا یوه نوې لوبه ده او(( ډیمو- کرات - انـدو)) نـومیږي. فـول نـه لري. وخـت یـې ټـاکلی نـه دی، ډېـره پـه زړه پـورې ده. وروسـته یـې د دې سیالۍ د لوبغاړو په بـاب معلومـات ورکـړل : اوس یـو تکـړه او اتـل لوبغـاړی رینگ ته ننوځي د ده په ظاهر مـه تېـر ووځـئ. ډېـر غښتلی دی.

وموليـدل چـې يـو خوارينجـوکی سـړی رینـگ تـه ننـوت. پـه ونـه ټیـټ و هـره پښـتۍ یـې جـلا جـلا

د ... فلسفه

لنډې کیسې

www.eilia.org

ښکارېدله. پر تله ودرېد وزن يې 49.5 کيلو و. نفري ورته په غوږ کې کوم څه وويل هغه خپل ځان وپړساوه ايله چې يې وزن 50 کيلو شو.
وياند غوښتل چې دويم لوبغاړی هم راوپېژني خو هغه په يوه ټوپ رينګ ته پورته شو د وياند له لاسه يې مايک واخيست او ايسته يې وغورځاوه. په ونه دنګ تر دوو مترو لوړ او ډېر هډور و. عضلات يې د ارنولد په څېر پړسېدلي وو. پر دواړو مټو، ټټر، څټ او ورنونو باندې يې د لړم، مار، ښامار، ليوه ، زمري ګوربت او ډول ډول نورو ژوو انځورونه کښل شوي وو. همدا چې پر تله پورته شو نو د تلې شمېرې په چورلېدو شوې او په پای کې پر 125 شمېرې باندې ودرېدلې.
د ټولو خولې وازې پاتې وې چې دا نو څه ډول سيالۍ ده. مسابقه پيل شوه د دواړو مخونه په نقابونو پوښل شوي او يوازې يې سترګې ښکارېدلې. هډور سړي د خوارينجوکي مخې ته بېباکه ودرېد دواړه لاسونه يې ځوړند نيولي وو.وچ موري د سترګو په رپ کې د هغه پر نس د سوکانو او لغتو لس دولس وارونه وکړل خو هغه ورته وخندل ځاپېړه يې ورته بنده کړه او د رينګ بل سر ته يې ګوزار کړ.
هلته رينګ ته نژدې د يوه مېز شاته رنګ رنګ خلک سره راټول وو. تور مخی، سور مخی، تورې قبا والا، سپين چلتار والا، شين سترګی او څو رنګه نور مخور او بې مخي کسان. ټولو پر هډور شرطونه ولګول خو يوازې شين سترګي پر وچ موري پيسې بندې کړې . چلتار والا د تېلو يوه ډبکه د ميز سر ته پورته کړه او شين سترګي ته يې وويل: ياره په پيسو خو نه ارزي خو دا تېل به ورباندې خرابات کړم.
شين سترګي په خندا ورته وويل: خرابات يې کړه هسې هم خدای درکړي په خوارۍ خو دې نه دي ګټلي.
په دې وخت کې تور مخي هم د شين سترګي له جېبه د پيسو يو بنډل راوکيښ او په داسې نخرو يې چې ته وا چا ته خېرات ورکوي د شين سترګي

www.eilia.org

مخې ته واچاوه او ویې ویل : هه دروایې خله دا هم زما له خوا.

سیالۍ روانه وه پنځه سرې له وچ موري سره داسې لوبه کوله لکه ماړه پیشو چې موږک یې نیولی وي او خوراک ته یې اشتیا نه وي نو موږک پرېږدي چې وتښتي بیا یې بېرته ونیسي په خپړ یې ووهي بیا یې خوشې کړي او بیا یې ونیسي. هغه هم ځان همداسې د خوارنجوکي مخ ته مړ پړ نیوه خوارنجوکي به یو څو وارونه ورباندې وکړل او سترې به شو بیا د هډوړ په یوه څاپېړه به ایسته وغورځېد. هغه څو وارې بېسد شو نفري ورته په هر ځل له یوې تر لسو پورې حساب کاوه یو، دوه، درې... نه، نه، نه خو لس به یې نه ویل او پخپل لاس به یې د هغه لاس پر ځمکه وډباوه او راپورته به یې کړ.

اخر کې چې وچ موری بیخې له پښو وغورځېد نفري د مسابقې پای اعلان کړ. څو شېبې چوپه چوپتیا وه سورمخی او نور انډیوالان یې ډېر خوشاله وو په زړونو کې یې ګوړې ماتولې چې ګواکې غوا یې لنګه شوه او شرط یې وګاټه خو نفري د وچ موري لاس پورته کړ. ټول حیران شول چې دا نو څنګه چل شو دا هډور ولې څه نه وایي. وروسته د خلکو پام شو چې د هډور په لاس کې د بانک یو سپین چک دی چې پرې لیکلې ده:

(( متحده جبهه))

www.eilia.org

محب الله زغم

مينه په ټېلفون کې

د ... فلسفه

لنډې کیسې

www.eilia.org

# ۱۳

یاره دا سیم کارتونه خو هماغسې قیمته ښه وو. اوس چې وګورې د هر چا په جیب کې درې- څلور سیم کارتونه پراته دي. یوه ورځ په دوکان کې ناست وم چې له نابلدې نمرې راته زنګ راغی. نجلۍ وه. پلار مې په دوکان کې ناست و. هغه له مشتریانو سره لګیا و. زه کرار له دوکانه ووتم. څومره ښکلی نری غږ یې و:

ـ سلام.

ـ سلام، څنګه یې؟

ـ ګرانه ته څنګه یې؟

ـ زه ښه یم. وبخښئ تاسې مې ونه پېژندئ.

ـ زه هماغه یم چې تېره هفته مې د ساري دامن جوړه درنه واخیسته. په هغه ورځ مې مور راسره وه؛ نو ما درسره خبرې نشوې کولی.

زما دوکان ته په ورځ کې شپېته اویا ښځې او نجونې راځي؛ نو دا یوه مې ولله که په یاد وه؛ خو ما وې هسې به یې خوشاله کړم ومې ویل: ډېر ښه. امر وکئ.

ـ هسې ما وې پوښتنه دې وکم چې څنګه یې؟

ـ ډېره مننه. رښتیا زما د ټېلفون نمره دې له کومه کړه؟

ـ ولې، تا خپل کارت نه و راکړی؟

ـ هو رښتیا هېر مې و.

www.eilia.org

ـ ښه گرانه اوس د خدای په امان.

ما چې هرڅه په خپل ذهن باندې فشار راوړ د هغې څېره مې رایاده نشوه. تر مازدیگره مې څو وارې ورته زنګ وواهه خو ټېلفون یې بند و. سبا او بله ورځ هم همداسې تېرې شوې. نه پوهېدم چې ولې ټېلفون نه پورته کوي؛ خو شپږم حس مې راته ویل چې هغه به بیا زنګ ووهي.

درېمه ورځ ماښام یې بیا زنګ وواهه.

- سلام حمید جانه، څنګه یې؟

ـ نو ته ووایه څنګه به یم. دا درې ورځې چېرته وې؟

په ژړغوني غږ یې وویل: ته زما له حاله څه خبر یې؟ زړه مې درپسې چوي. دا درې ورځې راباندې کال تېر شو.

د هغې خبرې ډېر خوند راکړ. زړه کې مې ویل چې دا دی والله زه هم یو څوک یم، چې د نجلۍ زړه راپسې چوي. دلاسا مې کړه: ولې، ګرانې څه خبره ده؟

ـ دا درې ورځې په کور کې وم. د مور له لاسه د باندې نشومه وتلې.

ـ ما خو درته ډېر زنګونه وهل. تا ولې ځواب نه راکاوه؟

ـ ټېلفون مې بند کړی و. ما ته چې زنګ راشي بیا تـول رانه پوښتنه کوي چې څوک و؟ څه یې ویل؟

بیا یې ټېلفون یوه هفته بند و. ما په خیال کې د هغې تصویرونه جوړول، چې داسې به وي، هسې به وي. د فلمونو هره نجلۍ مې یو یو وار په ذهن کې ګرځېده. دوکان ته چې به نجونې راتلې د هرې ښکلې په څېره کې هغه راته ښکارېده. بله هفته چې یې ټېلفون راغی ویې ویل چې په موبایل کې یې کریډټ نه و ځکه یې راته زنګ نه و وهلی. عاجل مې د پنځو سو افغانیو کارت واخیست او په اس ام اس کې مې ورواستاوه. ورته

د ... فلسفه

لنډۍ کیسې

www.eilia.org

مې وويل چې ته فقط مس کال راکوه زه به درته زنګ ووهم.

ژوند راته مانا پیدا کړه. د احمد ظاهر سندرې رابانـدې ګرانـې شوې. د زړو هندي فلمونو د سندرو په خوند پوه شـوم. ټولـه دنیـا مـې د هغې له یوې خندا او یوې خبرې سره نه برابروله.

په هفته کې مې د موبایل یـو دوه کارتونـه خامخـا وراسـتول. یـوه ورځ یې راته وویل: ((تا سره ګلابي رنګ ډېر ښه ښکاري))

زه ه لاړم له بوټانو نیولي تر خولۍ مې هرڅه په ګلابي رنـګ کـې پیدا کړل او وامې خیستل.

نور نو یوازې د هغې خبرې زما د درد چاره نه کوله. ورته مې وویل چې خامخا باید ماسره وګوري. هغه به پلمې کولې چې پلار یې نه پرېـږدي چې یوازې له کوره وځـي. اخـر مـا ورتـه وویـل چـې کـه رانشي، نـو زه خپـه کېږم.

اخر هغه ورځ هم راورسېده چې درې میاشتې ورته پـه تمـه وم. د ښاروالۍ څنـګ تـه پیـاده رو کـې یـې راسره وعـده وه. د کـرزي تـر عکـس لاندې. وعده مو لس بجې وه، خو زه له نـه نیمـو ورتـه ولاړ وم. زمـا قسـمت وګوره چې باران اوري. په زړه کې وایم کـه د بـاران لـه ډاره رانشي، نـو بیـا. اسمان ته په غوسه وم چې همدا د بـاران وخـت و؟ لـه سره تـر پښـو پـورې لوند خیشت وم. د ګلابي دریشي اتو مـې خرابـه شـوه. پـر سـړك بانـدې د نورو ورځو بېروبار نه وو. دا نو زما په ګټه وه چې بې غمه له هغې سره چکر ووهم. لس بجې شوې، خو د هغې درك نشو مالوم. زنـګ مـې ورتـه وواهـه. ویـې ویـل چــې د اطلاعـات او فرهنــګ د وزارت لــه مخــې تېــره شــوې او زېرزمینۍ خواته روانه ده. ما پوښتنه وکړه چې څنګه دې وپېژنم؟

ویې ویل: ګلابي رنګه ګلداره چترۍ مې په سر ده. کاوبای پتلون او کورتۍ مې اغوستي دي.

ما لاره څارله چې دا د زیرزمینـۍ لـه زینـو پورته شوه. تاسې نـو نـه پـوهېږئ چـې مـا څـه حال

د ... فلسفه

لنډې کیسې

www.eilia.org

درلود. زړه مې ټوټوټه وهل، په لاس او پښو کې مې متره نه وه پاتې. څومره چې هغه رانږدې کېده هماغومره مې د زړه ټکان زیاتېده. هغه راته راورسېده؛ خو همداسې ښوی له څنګه مې تېره شوه. هك پك شوم چې دا څه چل وشو. ښايي پېژندلی يې نه وم. ورپسې روان شوم. غږ مې وکړ: ګوره زه دلته يم.

هغې راته حيران حيران وکتل. ويې ويل: څه دې ويل؟

غږ يې لږ بل شان و. ما وې په ټېلفون کې خو هسې هم د سړي غږ بل رقم راځي. وګوره ګلابي چترۍ، کاوباي دريشي، ټولې نښې سمې دي.

ومې ويل: هو، ما وې باران لوند کړی يم په همدې خاطر دې ونه پېژندم.

ــ ته څوك يې؟ زه خو دې نه پېژنم.

ــ ګوره ګرانې نور مې مه ځوروه.

ــ څه شی؟ لېونی خو به نه يې؟

ــ ستا مينې په رښتيا لېونی کړی يم.

هغه يوه کلکه څپېړه راکړه. د ښاروالۍ له خوا دوه پوليسان راروان وو. نجلۍ وويل: ته ودرېږه چې پوليس راشي...

منډه مې کړه، زېرزمينۍ ته ورکوز شوم. اوس حيران يم چې پر کومه خوا وتښتم. يو دم مې راياد شو چې د پارك هوټل څنګ ته د فريد دوکان دی. شا ته مې نه کتل، په يوه منډه دويم چت ته وختم. ځان مې د هغه دوکان ته ورساوه. په دوکان کې زموږ څلور پنځه تنه نور ملګري هم ولاړ وو. ټولو خندل. ما وې لکه چې زه يې ليدلی يم که څنګه. زما په ورتګ چوپ شول. ژر ژر مې له ټولو سره ستړي مشي وکړه او په دې پلمه چې ډېر لوند شوی يم، ځان ته جاکټ لټوم په کوټبندونو کې د ځوړندو کاليو منځ ته ننوتم. ما وې که پوليس راپسې دوکان

www.eilia.org

ته راشي چې پيدا مې نکړي. شېبه وروسته د نجلۍ غږ مې واورېد: دلته دی، همدې دوکان ته ننوت.

دا وار يې غږ هماغسې و چې په ټېلفون کې يې راسره خبرې کولې. وه خدايه دا نو څه بيابې ده؟ لکه چې ملګرو ته مې په يوه روپۍ شوم. ساه مې په ستوني کې بنده وه. له ډاره مې ساه نشو ايستی.

فريد وويل: خيريت خو به وي څوك لټوئ؟

نجلۍ وويل: راويې باسه. هغه لوچك ملګری دې چېرته پټ کړی؟ ما پخپلو سترګو وليد چې ستا دوکان ته ننوت.

په زړه کې مې خدای او پيران وننګول چې له دې لانجې مې خلاص کړي. يو وار زما له شاوخوا د کاليوکوټېندونه پورې ووهل شول. ټول ملګري مې راچاپېر شول. فريد د هماغې نجلۍ په غږ وويل: ويې نيسئ، همدا دی.

www.eilia.org

محب الله زغم

# کمپیوټري ډاکټر

۱۴



له تاسو به یې څه پټوم د ( مرده باد او زنده باد ) وختونه وو.د همدغو شعارونو له برکته طب ته کامیاب شوم. ګوندي ملګرو سپاه انقلاب ته هم شامل کړم. په دریو میاشتو کې به یو ځل تر خاک جباره یا تر کارېزمیره پورې تلواو پاتې وخت به مو د عایشه دراني او رابعه بلخي د لېسو د دروازو په خوا کې تېرول. د کال په پای کې یې د نظامي

www.eilia.org

وظيفو تصديق راکاوه په تصديق کې به يې ليکل چې دغو کسانو د محاربې په گرمو جبهو کې برخه اخيستې. خو زموږ جبهې به شير گرمې وې ځکه چې د خدای د رضا لپاره به مو هم ډز په کې نه و کړی. دغه تصديقونه په ازموينه کې زموږ د کاميابۍ فرمانونه وو کوم استاد به د نر زوی و چې موږ ناکامه کړي.

په همدې توگه له طب فارغ او ډاکتر شوم. د يوه روغتون د گوندي سازمان منشي وټاکل شوم. زه له ځانه نه وم خبر چې د روغتون علمي مرستيال د وخته راته د علمي کادر اسناد جوړ کړي وو. خدای دې چاپلوسان ژوندي لري په چکچکو يې تر پوهنملي رتبې ورسولم. حکومت بدل شو زموږ گوندي جناح له داسې تنظيم سره ايتلاف وکړ چې په ملگرتيا کې يې تر موږ هم اړولي و. د دولت له خوا حج ته لاړم چې بېرته راتلم د روغتيا د وزير کوروالا ته مې د سروزرو يو لوکس سيټ راوړ. پر سبا يې پوهاند او د روغتون ريس شوم. لا مې د رياست نيمايي عيشونه نه و کړي چې د تيښتې وار راغی ځو کاله مې په دربدرۍ کې تېر کړل. بيا هم د واکمنۍ پچه زموږ په نامه وختله خو نور د دغسې حکومتونو پر دوام باوري نه وم. له ځان سره مې وپتيله چې بايد د شخصي کار و بار يوه لاره جوړه کړم. کتنځی مې جوړ کړ. ناروغان مې نه لرل؛ نو له سهاره تر ماښامه به مې پر سرک باندې تېرېدونکې موټرې گڼلې د کتنځي د دوو مياشتو کرايه راباندې هسې چپه شوه.

يوه ورځ مې يو کتاب تر سترگو شو. عنوان يې و ( لطفاً گوسپند نه باشيد ) اول سر کې مې ورته خندا راغله چې دا به کوم ليونی ليکلی وي که کتاب يې پسونو ته ليکلی خو هغوې يې لوستلی نه شي او که مخاطب يې انسان وي نو انسان خو هسې هم پسه نه وي.

چې ډېر فکر مې وکړ د يو چا خبره مې رایاده شوه چې ويل يې : څوک چې غوليږي حيوان دی ، چې

www.eilia.org

بل غولوي شيطان دی خو انسان هغه دی چې نه غولیږي او نه غولوي.

ما وې له دې مقولې به خامخا ګټه اخلم. خپلو تنظیمي برادرانو او ګوندي ملګرو باندې مې غږ وکړ چې ما به ضرور د امریکې بورس ته لیږئ. د بورسونو ټیکه دار راته وویل چې سږ کال خو په طب کې هیڅ بورس نشته یوازې په وترنرۍ کې یو درې میاشتینی بورس لرو . ما وې نوم یې مه یادوه بس ور لیږه مې.

درې میاشتې مې د موږکانو د له منځه وړلو درسونه وویل چې بیرته راغلم یوه ډیجیټله لوحه مې په دې بڼه ولګوله:

الحاج پروفیسور پوهاند ډاکتر هوښیار کمپیوټرایز

تحصیلات عالي کمپیوتري در امریکا

اوس مې کار ښه په درز سره روان دی .د مریضانو راباندې وار نشته. څوک مې کمپیوټري ډاکتر بولي او څوک راته امریکایي ډاکتر وایي. ناروغان چې راځي اول زما د سکرټر کوټې ته ننوځي . سکرټر مې ترې پو ښتنه کوي چې کوم ځای دې خوږیږي ، څه تکلیف لرې؟

زه د هغوې خبرې د مایکرو فون له لارې اورم. بیا چې مریض زما اتاق ته راځي زه یې پر مېز باندې پرې باسم د خپل زوی لاسي ویډیو ګیم ورباندې ګرځوم د خوږ پر ځای چې برابر شو ټنې یې کېکاږم. وېډیوکیم چونګیږي او زه ناروغ ته وایم دغه دی که خدای کول درد دې رامالوم شو.

دا کار په داسې جدیت کوم چې هغه ډېر هوښیار کسان هم پرې غولیږي. اوس چې په ښار کې ګرځم ډېری خلک راته پسونه ښکاري. کله کله ډاریږم چې زه هم دوې ته شیطان ونه بریښم خو بیا فکر کوم چې حیوان به څنګه انسان او شیطان سره وپېژني.

د ... فلسفه

لنډې کیسې

www.eilia.org